Public Disclosure Authorized

91527

په افغانستان کې د نړیوال بانک فعالیتونه

د ۲۰۰۹ د
جنوري میاشت

د هیواد په کچه دپرمختیاوو نوې پیښې

سریزه

افغانستان په ۲۰۰۸ کال کې په خورا ستونزمنو شرایطو سربېره د پام وړ لاسته راوړنې درلودې، چې مهمې یې دادي: د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو وختونو څخه زیات شمېر نجونې او هلکان ښوونځیو ته ځي، د ماشومانو د مړینې د پام وړ کچه لږه شوې ده، زیات شمېر افغانان په ځانګړې توګه ښځې روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی لري او د کلیو د پراختیا لپاره د حکومت ملي پروګرام د هېواد په هر ولایت کې په زرګونو کلیو کې پرمختیایي چارې ترسره کوي. همدا راز د بودیجې پروسه نوره همه پیاوړې شوې او د عامه مالي چارو او تدارکاتو په ډګرونو کې پرمختګونه شوي دي،. خو د نا امنۍ، مخدره توکو تولید او اداري فساد د زیاتوالی په هکله اندېښنې شته دي، چې د دولت جوړونې او نورو هغو ډګرونو پرمختګ یې له خطر او ګواښ سره مخامخ کړی دی چې د ودې او کار موندنې لپاره اړین ګڼل کیږي.

د کابل په ښار کې یوه کوچنۍ ماشومه چې کاغذ د ټوټو څخه په بل شوي اور باندې ځان تودوي. (عکس د پژواك خبري آژانس)

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پلاوي د ۲۰۰۸ کال نوامبر په میاشت کې له افغانستان څخه لیدنه وکړه. دې پلاوي د هېواد ولس مشر ښاغلي کرزي او د نړیوالې ټولنې غړو سره لیدنه کتنه وکړه (د ناټو تر مشرۍ لاندې آیساف په ګډون). د پلاوي خبرې د اداري او حکومتداری، سیمه ییزې همکارۍ، ټولټاکنو، بشري حقونو او موضوعاتو، سولې او پخلاینې، امنیت، ملکي تلفاتو، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ، رسنیو، د ښځو حالت او له افغانستان سره د مرستې لپاره د ملګرو ملتونو د رول په هکله وې.

د ډسمبر میاشتې په شلمه، د هېواد ولس مشر ښاغلي کرزي د سوداګرۍ او صنایعو پر وزیر ډاکتر محمد فرهنګ د نه باور رایه او له دندې ګوښه کېدنه منظور کړه ترڅو د پارلمان پرېکړې درناوی یې کړی وي. د اکتوبر د میاشتې په شلمه نېټه ولسي جرګې دریو نومول شویو وزیرانو ته د باور رایه ورکړه. دا نوي وزیران محمد حنیف اتمر (د کورنیو چارو وزیر)، ډاکتر محمد فاروق وردك (د پوهنې وزیر) او محمد آصف رحیمي (د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزیر) وو. نوماندو هر یوه د پارلمان د ۲۱۱ حاضرو وکیلانو څخه ۱۰۶ د باور رایو ته اړتیا درلوده. ښاغلي اتمر ۱۳۲ موافقې او ۶۸ مخالفې رایې ترلاسه کړې. ډاکتر فاروق وردك ۱۳۹ موافقې او ۶۲ مخالفې رایې ترلاسه کړې او محمد آصف رحیمي ۱۵۶ موافقې او ۵۰ مخالفې رایې ترلاسه کړې.

د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان کنفرانس د لومړې ځل لپاره په کابل کې د ۲۰۰۸ کال د نوامبر میاشتې په نهمه او لسمه نېټو جوړ شو، چې په خپله دوه ورځنۍ کلنۍ غونډه کې سیمه ییزې موضوع ګانې وڅېړې. د هېواد د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي دادفر رنګین سپنتا په خپله پرانستونکې وینا کې وویل چې د امنیت او مخدره توکو د مبارزې په ډګرونو کې د سیمې هېوادونو همکاري به د کنفرانس د آجنډا په سر کې ځای ولري. نوموړي وویل: ددې سازمان استازي به د افغانستان د راتلونکو ریاستې او پارلماني ټولټاکنو څخه د تېرو ټاکنو په څېر څارنه وکړي. د دې سازمان د دایمي شورا رییس انتې تورونین د افغانستان د راتلونکو ټاکنو لپاره د دې مؤسسې د ملاتړ یادونه وکړه او ویې ویل: دوی به د ټولټاکنو د مرستې لپاره د هیڅ راز هڅو څخه ډډه ونکړي. افغانستان د ۲۰۰۳ کال د اپریل میاشت راهیسې ددې سازمان د همکار په توګه ونډه اخیستې ده. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان چې، د اروپا، مرکزی آسیا او شمالي امریکا ۵۶ هېوادنه پکې غړیتوب لري، د نړۍ تر ټولو ستر سیمه ایز امنیتي سازمان دی.

«په دې وروستیو کې زما د سفر هدف و موخه هغو ستونزمنو او ننګونو پېژندنه او پرې پوهیدنه ده چې افغانستان ورسره مخ دی.» دا خبره **نیکولاس جی کرافټ** چې د افغانستان لپاره د نړیوال بانك نوی ټاکل شوی رییس دی، څرګنده کړه او زیاته یې کړه: « له *پراخې بېوزلۍ سره مبارزه، د ادارو بیارغونه او د امنیتي ستونزو، مخدرو توکو او فساد د منځه وړلو لپاره پکار ده چې د څوکلونو له پاره جدي همغږې هڅې او هلې ځلې ترسره شي. هیله لرم چې د نړیوال بانك چارې او کارونه داسې تر سره کړم چې د بېوزلې او اړینو وګړی ډېر ملاتړ او حمایت وشي*».

Public Disclosure Authorized

د افغانستان له پاره د نړیوال بانک د تګلاری د مرستې په دغو دریو برخوباندې تمرکز کوي:

- د دولت کاري ظرفیت او حساب ورکولو ته وده ورکول، تر څو لومړی د هغو خدمتونو برابرول تامین کړي چې د ښاري استوګنو له پاره معقول، د لاس رسیدنې وړ وي او مناسب کیفیت ولري.
- د کلیوالي اقتصاد وده او کلیوالو ژوند او کارکسب ته ښه والی ورکول.
- د خصوصی، رسمي، عصري او سیالیزه (رقابتي) سکتور په وده کې مرسته کول.

د نړیوال بانک مرستې

د ۲۰۰۲ م کال د اپریل له میاشتی څخه را پدیخوا، نړیوال بانك په افغانستان کی د ۴۱ پرمختیایي او بیړنیو بیارغونی پروژو او دری د بودجوی ملاتړ فعالیونو لپاره ۱،۶۹ میلیارد امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده. دغه مهال، نړیوال بانك د ۱،۱۵ میلیاردو امریکایی ډالرو خالصو ژمنو سره ۲۷ فعالی پروژی لری. ددغه ملاتړ په ترڅ کی له ۱،۱۴ امریکایی ډالرو زیاترو وړیا مرستو او ۴۳۶،۴ امریکایی ډالر د ګټې پرته پورونو (کرډیت) په بڼه شامل دی. تر اوسه پورې د نړیوال بانك د تمویل لاندې یو شمېر پروژې بشپړې شوې دي، چې په هغو کې د ښوونې او روزنې پروژه، د عامه کارونو بیړنۍ پروژې، د ادارو بیا رغاونه، د ترانسپورت بیا رغونې بیړنۍ پروژه او د عامه ادارې د پروژې لومړۍ پړاو او همدا رنګه د بودیجې د ملاتړ دری فعالیتونه ګډون لري.

د افغانستان د بیارغونی صندوق (ARTF) چی د ۳۰ مرستندویه هیوادونو په استازیتوب د نړیوال بانك لخوا پرمخ بیول کیږی او د آسیایي پرمختیایي بانك، د اسلامی پرمختیایي بانك، یوناما او د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام په مرسته اداره کیږی، اوس هم د افغانستان له جاري بودجی او پانګه اچونی څخه،چی د دولت د منل شوی بودجوې لومړیتوبونو د منسجم از منظم مالی ملاتړ ستر میکانیزم ګڼل کیږی. د ۲۰۰۸ کال د نوامبر میاشتې تر ۲۰ مې نېټې پورې، ۳۰ مرستندویو سرچینو د افغانستان د بیاجوړونې له صندوق (ARTF) سره د ۳ میلیارده ډالرو څخه زیاته ژمنه و کړه، چې له دې جملې څخه ۲،۸ میلیارده ډالره ترلاسه شوي دي. له ۱،۵ میلیارده ډالرو څخه زیات د افغانستان دولت د جاري لګښتونو، لکه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو معاشونو لپاره او ۹۸۰ میلیونه ډالره د پانګې اچونې پروژو ته د مرستې په توګه ورکړل شوي دي.

د جاپان ټولنیزي پراختیا صندوق (JSDF) چی د نړیوال بانك لخوا اداره کیږی، یوه نوی کړکۍ (لاره چاره) یی د افغانستان لپاره برابره کړې ده، چی د دولت له ملی پروګرامونو څخه د ملاتړ په موخه په همغږۍ سره فعالیت کوي. د ۲۰۰۸ کال د نوامبر تر میاشتی پوری له JSDF سره د جاپان مرسته ۲۳،۱ میلیونو امریکایی ډالرو ته ورسیده.

همدارنګه دنړیوال بانك په مرستوکې دافغانستان دولت ته دمشورو ورکول هم شامل دي، تر څو وکړای شي دتمویل کوونکو زیرمو او پانګو څخه په اغیزناکه او روښانه توګه استفاده وکړي. همدارنګه دنړیوال بانك په مرستوکې دافغانستان دولت له پاره داقتصاد،عامه ادارې، جنسي برابرۍ، دفقر،نیستۍ او دمخدره موادو سوداګرۍ دراکمولو او مالي چارواداري دڅېړنې او بررسې په برخوکې مرستې هم شاملي دي. نړیوال بانك په فعالانه ډول دخپلو دبودجوي مرستو اوعملیاتو له لارې د مهمو اصلاحاتو، په ځانګړې توګه دمالي دچارو او عامه ادارې په برخه کې مرسته کړې ده. نړیوال بانك دکاري ظرفیت دلوړتیا، د دولت دقانونیت او ددولت دبودجې له لارې دتمویلونکو هیوادونو د منابعو او زیرمود راجلبولو او واردولو په ډګر کې مرسته کړې، تر څودا لارې چارې برابرې شي چې پانګه اچونه له ملي لومړیتوبونو سره همغږې او هماهنګه شي. تراوسه پورې نړیوال بانك له نورو تمویلونکو سره په یوشمیرهغو سکتورونو کې، چې د دولت مالکیت او دمرستوهماهنګی او برابرول پکې ډیره ضروري دی، کارکوي.

د شمال ختیځ ولایت بدخشان په بهارك ولسوالۍ کې د ملي پیوستون پروګرام د بسپنو په کارونې سره د ښوونځي ودانۍتر جوړولو لاندې ده.

د فعالیتونو (پروژې) په هکله معلومات:

د ملي پیوستون بیړنۍ پروژه (د ۳۰۶ میلیونه امریکایی ډالرو وړیا مرسته، ۳۳۰ میلیونه امریکایی ډالرو وړیا مرسته د افغانستان د بیارغونې د صندوق لخوا) دغه پروګرام د افغانستان د دولت له هغو مخکښو پروګرامونو څخه دی چی د وړو بیارغوونو او پرمختیایي کارونو په موخه د پرمختیایي شوراګانو لخوا په ټول افغانستان کی ترسره کیږی. نړیوال بانك ددغه پروګرام له ټولو ستره سرچینه شمیرل کیږی، پداسی حال کی چی نوری سرچینې یی دادي: د افغانستان د بیارغونی صندوق، د جاپان د ټولنیزی پرمختیا صندوق او څو نور دو اړخیزی سرچنیی. د ۲۰۰۳ کال له مې د میاشتې څخه د ۲۰۰۸ کال د دسمبر تر میاشتې پورې، تر ۱۹ میلیونه څخه زیاتو

افغانانو د ملي پیوستون له پروګرام څخه ګټه اخیستې ده. تر اوسه له ۲۲۰۸۶ څخه زیات کلي چمتو شوي او ۲۱۷۰۶ کلیو خپلې پرمختیایي شورا ګانې په بریالیتوب سره ټاکلې دي. دا شورا ګانې د ملي پیوستون پروګرام د ۲۹ همکارو مؤسسو په مرسته جوړې شوې دي، چې کلي یې منظم کړي او د ټاکنو او پرمختیایي پلان جوړونې سره یې داسې مرسته کړې ده چې سلا مشورې یې برابرې کړې او د پروژو په برابرولو او پلي کولو او د پرمختیایي شورا ګانو د غړیو د ظرفیتونو په لوړولو کې یې مرسته کړې ده. ددې پروګرام له لارې له ۴۵۲۹۹ سیمه ییزو پروژو څخه زیاتې، چې په بشپړه یا قسمي توګه تمویل شوي، له ۲۶۱۷۱ پروژو څخه زیاتې تر اوسه بشپړې شوي دي. کابو ۸۰ په سلو کې پروژې د کلیو بنسټونه لکه اوبه لګونه، کلیوال سړکونه، برېښنا او د څښاك اوبه برابروي چې د اقتصاد د پرمختګ، ټیکاو او د کلیو د ادارې لپاره ډېرې اړینې او ضروري دي.

د هرات ولایت د طی بوتي کلي زده کوونکي خپل لومړني ښوونځی ته ورننوځي. ددې کلي پرمختیایي شورا د ملي پیوستون پروګرام تخصیص شوی پانګه د ښوونځي ودانولو لپاره کارولی دی.

د کلیو په کچه پروژې، چې د ملي پیوستون پروګرام په مالي مرسته ترسره کیږي، پر ټولنیزو او اقتصادي جوړښتونو باندې ټینګار کوي او په کلیو کې د مېشتو خلکو د لومړیتوبونو پر بنسټ ترسره کیږي. د کلیو لپاره د ۴۵۲۹۹ تمویل شویو پروژو په ډله کې، له ۲۴ په سلو کې زیاتې پروژې د اوبو او روغتیا ساتنې په برخو کې، په سلو کې له ۱۶ څخه زیاتې د اوبو لګونې د سیستمونو د بیا رغونې په برخو کې، له ۲۴ په سلو کې زیاتې د ترانسپورتي بنسټونو (سړکونو او پلونو) د ښه کولو، له ۱۵ په سلو کې زیاتې د انرژۍ (جنراټورونه، د اوبو برېښنا کوچنۍ کارخانې، او لمریزه برېښنا)، له ۵ په سلو کې زیاتې پروژې د ژوندانه د وسیلو د ښه والي او عوایدو د منځ ته راوړلو لپاره، په سلو کې له ۱۴ څخه زیاتې یې د پوهنیزو جوړښتونو سره او په سلو کې ۲ یې د نورو پانګه اچونو سره تړاو لري. د ملي پیوستون پروګرام د ۳۶۴ ولسوالیو څخه په ۳۵۲ ولسوالیو کې په ټول هېواد کې فعالیت لري. د ۲۰۰۸ کال ددسمبر تر ۲۰ مې پورې، له ۵۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات د بلاك ګرانټ (غیر مستمرو مالي مرستو) د قسطونو په ډول ورکړل شوي دي.

د ملي پیوستون پروګرام د پروژو پر پلي کولو سربېره په افغانستان کې یې د کلیو په کچه اداره هم پیاوړې کړې ده، داسې چې د کلیو پرمختیایي شورا ګانو یوه شبکه یې جوړه کړې ده. د کلیو پرمختیایي شورا ګانې د کلیو په کچه ممثل او استازي جوړښتونه دي چې د کلي د ننه، د کلیو ترمنځ او د کلیو او دولتي ارګانونو او نورو مرستندویه ادارو سره د اړیکو بنسټ جوړوي. دې شورا ګانو په زیاتیدونکې توګه د کلیو په کچه د شخړو د حل او لېږې کولو لارې چارې برابرې کړې دي. په دې هکله لازیات معلومات په لاندې سایټ کې ترلاسه کولای شي:
http://www.nspafghanistan.org

د بامیانو ښار او شهیدانو کلي ترمنځ سړك د کلیوالو سړکونو پروګرام له خوا بیارغول شوی دی، چې ددې کلي په تاریخ کې یې د لومړي ځل لپاره د موټرو د تګ او راتګ امکانات برابر کړل.

کلیو ته دلاس رسۍ ملي بیړنۍ پروګرام: دا پروګرام د نړیوال بانك لخوا اداره کیږي او په ترڅ کې یې دری پروژې د ترسره کیدو په حال کې دي. د دوه نورو پروژو په اړه د معلوماتو له پاره د JSDF اوARTF د عنوانونوته مراجعه وکړی.

کلیو ته دلاس رسۍ ملي بیړنۍ پروژه (۱۳۷ میلیونه امریکایي ډالره): د کلیوالو سیمو ته د لاس رسۍ د بیړنۍ کارموندنې ملي پروګرام " په تعقیب چې په دې وروستیو کې بشپړ شو، نړیوال بانك د دولت د کلیوالو لارو له پروګرام سره خپلې مرستې ته دوام ورکوي او نوره وړیا مرسته یې د ۱۱۲ میلیونه ډالرو په ارزښت د کلیوالو لارو لپاره ملي بیړنۍ پروژې ته د ۲۰۰۷ کال د ډسمبر میاشتې په ۱۳مه نېټه منظوره کړه. حکومت هم موافقه وکړه چې له خپلو یا نورو تمویلي وجهو څخه د ۵۰,۳ میلیونو ډالرو په ارزښت ددې پروژې په تمویل کې برخه واخلي او په دې توګه خپل ژمنتوب وښایي. ددې پروژې موخه چې د کلیو د لارو د ملي پروګرام د عمومي موخې یوه برخه ده، داده چې د پروژې اړوند کلیوال ځایونه د کال په ټولو فصلونو کې اساسي خدمتونو او آسانتیاوو ته لاس رسی ولري. دا پروژه په پام کې لري چې دا موخه د ۲۰۰۰ کیلومټره کلیوالو سړکونو او ۹۰۰۰ متره پلچکونو او نورو اوبو ایستونکو جوړښتونو په بیا جوړولو سره ترسره کړي. د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر میاشتې تر شلمې نېټې پورې د ۳۹,۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د ۱۳۴ فرعي

پروژو قراردادونه ترسره شول او ۴۹ فرعي پروژې د تدارکاتو په بیلابیلو پړاوونو کې دي. په یو شمېر سرکونو کې د سروې او ډیزاین فعالیتونه په چټکتیا سره دوام مومي.

دغه میرمن د کوچنیو پورونو له مؤسسې څخه د کندز په ولایت کې کریډټ ترلاسه کوي.

د کوچنیو پورونو د لاس رسي پراختیا او د دوام موندنې د پیاوړتیا پروژه (۳۰ میلیونه ډالرو په ارزښت وړیا مرسته او د افغانستان بیا رغونې صندوق ۱۸۳,۳ میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرسته): د دغه پروګرام موخه د افغانستان له دولت سره د یوه دوامدار مایکروفینانس سکتور په مینځ ته راتګ کې مرسته کول دي، چې نوموړی سکتور نیستمنو او بیوزلو خلکو ته انعطاف منکونکي، مناسب او داسې مالي خدمتونه برابر کړي چې خلك یې له باره ووتلی شي. د یوه جامع مالي سکتور جوړول او د هغو خنډونو لیرې کولو چې د مایکرو فینانس ټولنه له پراخ مالي سیستم څخه بېلوي، پدې اړه یوه مهمه موخه ګڼل کیږي. په ۲۰۰۳ کال کې ددې پروګرام له پیل راهیسې، د هغې په ترڅ کې له ۱۳۴,۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات د مالي مرستو په ډول برابر شوي دي، چې پکې ۹۵,۵ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت پور هم شامل دی. اوس د مایکروفاینانس ۱۵ مؤسسې شته دي چې په ۲۴ ولایتونو کې تر ۲۸۲ زیاتې څانګې لري. همدا راز د ۴۴۴۱۵۹ څخه زیات د پور او سپما بیپاران (مشتریان) شته دي. تراوس مهاله، دې پروګرام په مجموعي توګه د ۱,۲ میلیونه ډالرو په شمېر پورونه ورکړي دي چې ټول ارزښت یې ۵۳۲ میلیونه امریکایي ډالره کیږي. د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر تر میاشتې پورې، د هغو پورونو ارزښت، چې بېرته لاندې ورکړل شوي، ۱۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده. د مشتریانو په سلو کې ۶۳ ښځې دي او د بیاورکړې اندازه په سلو کې ۹۵,۵ ده. په ۲۰۰۷ کال کې دې سکتور هره میاشت د ۱۶ میلیونو ډالرو په شا او خوا کې د پور په څېر برابر کړي او ۸۰۰۰- ۱۰۰۰۰ مشتریان یې زیات شوي دي. دغه سکتور اوس له ۴۸۰۰ زیاتو افغانانو ته د کار لارې چارې برابرې کړی او تر ۶۶۰ زیات افغانان یې په مایکروفاینانس کې روزلي دي. دغه پروژه اووه نورو هغو ولایتونو ته د غځېدو په حال کې ده چې پکې کوکنار کرل کیږي. نوموړي ولایتونه د دولت لخوا په ګوته شوي دي، چې د کوکنارو کرونده ګرو ته د ژوندانه متبادلې وسیلې برابرې شي. تمه ده چې ددغې پروژې په ترڅ کې به د هېواد د زیاترو ولایتونو د لږ تر لږه ۵۰۰۰۰۰ نیستمنو او غریبو خلکو سره د ۲۰۰۸ کال تر پایه مرسته وشي. دغه سکتور په مجموع کې له مخکې نه خپل په سلو کې ۸۱ لګښت له خپلو فعالیتونو له ګټې وټې او عوایدو څخه برابروي. د مایکروفینانس د ۱۵ مؤسسو څخه دوه یې همدا اوس کولای شي چې په خپل لګښت فعالیت وکړي او تمه ده چې د مایکروفینانس دوه نورې ادارې به هم د ۲۰۰۸ م کال تر پایه پورې په خپلو پښو ودریږي. په دې هکله اضافي معلومات په لاندې سایټ کې کتلای شي: http://www.misfa.org.af

د عامه مالي چارو د اصلاحاتو پروژې (د ۶۰,۴ میلیونه ډالرو په ارزښت وړیا مرسته): یو پر بل پسې څلورګوني عملیات ددې لامل ګرځي چې د عامه مالي ادارې لپاره د روڼ او فعال سیستم د جوړولو لپاره د افغانستان هڅې پیاوړې شي او د عامه سرچینو څخه ښه ګټه واخستل شي. په لومړي سر کې مرستې د مشورتي شرکتونو د تمویل په موخه ترسره کېدې، چې د دولت کارکوونکو ته د تدارکاتو د اجرا او د خزاینو ادارې په هکله مرسته وکړي، خو دا نوې پروژه د مالیې وزارت د خزاینو د څانګې د تدارکاتو او تفتیش د کاری ظرفیتونو لوړوالي ته پاملرنه کوي. نوموړو پروژو د عامه مالی چارو د ادارې د اوسني عصري قانون او د هغو د پلي کېدو د سیستمونو په هکله مرسته کړې ده. لاندې فعالیتونه په دې ګامونو کې ګډون لري:

د تدارکاتو د چارو مشاور: دې مشاور د دولت د ۵۲۷ قراردادونو ترسره کول چې ټول ارزښت یې ۱،۵ میلیاردو ډالرو ته رسیږي، آسانه کړ. د تدارکاتو نوی قانون تصویب شوی او اړونده مقررات او د داوطلبۍ سندونه یې هم ترتیب شوي دي.

د تدارکاتو د ظرفیت دلوړتیا مشاور: د تدارکاتو د زده کړو اړوند د اړتیاوو بشپړه مطالعه شوې ده او د اړتیاوو د پوره کولو پلان جوړ شوی دی. د دولت د ملکی خدمتونو د زده کړې په انستیوت کې به د ټولو وزارتونو د تدارکاتو ټولو مسئوولو کارکوونکو ته د تدارکاتو د اصولو په اړه زده کړه دوام لري.

یو سړی خپل کریډټ د ننګرهار په ولایت کې د قصابۍ د دوکان پرانستلو لپاره کاروي.

د مالي چارو د اداري اړوندو فعالیتونو مشاور: د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر د میاشتې راپدیخوا د محاسبو، د بودجې کنټرول او چك د صادرولو واحد سیستم د مالیې د وزارت د خزاینو په ریاست کې فعال شوی دی. په نوموړي سیستم کې د بودجې ټولې معاملې ثبتیږي، چې د هغې په واسطه د بودجې د اجراتو او د حکومت د مالی حالت په هکله په خپل وخت او هر اړخیز راپورونه برابریږي. نوموړی سیستم ځینې اړوندو وزارتونو او د مالیی وزارت ولایتي ادارو ته پراختیا مومي. همدارنګه نوي پروګرامونه د شتمنیو د تدارکاتو او کنټرول لپاره ور زیاتیږي.

د تفتیش مشاور: نوموړي مشاور د کنټرول او تفتیش د عمومي اداري سره د نړیوالی پرمختیایی اداري او د افغانستان د بیاجوړونې د امانتی صندوق د پروژو په تفتیش او همدارنګه د دولت د لګښتونو او بودیجې په ټاکنه کې مرسته کړې ده. همداراز، تر سلو زیاتو کارکوونکو د زده کړې په بېلابېلو کورسونو کې، لکه کمپیوټر او انګلیسي ژبه، تخنیکي تفتیش او د تفتیش د نویو میتودنو او پروسو په هکله زده کړه کړې ده. د کنټرول او تفتیش عمومي اداره په کمپیوټرونو او نورو وسایلو سره سمبالېږي او د ستراتېژۍ د پراختیا او پرمختیا پلان د تفتیش د چارو له اړونده حقوقي چوکاټ سره یوځای جوړ شوی دی. او د ستراتیژۍ د پراختیا پلان جوړ شوی او د تفتیش د نوي قانون وړاندیز شوی دی.

د داخلي پلټنې (تفتیش) د اداري د ظرفیتونولوړتیا: د مالیې وزارت د داخلي تفتیش ریاست د تفتیش یو روزنیز پروګرام پلي کوي چې د هغې له لارې د مالیې وزارت او نورو عامه ادارو ۱۲۰ تنه کارکوونکو ته د ۴ میاشتو لپاره زده کړه برابره شوې او د حکومت د ټولو ادارو د داخلي پلټنې (تفتیش) کارکوونکي یې روزلي دي، چې په هغې کې د دفاع وزارت ۴۰ تنه کارکوونکي هم ګډون لري.

د پوهنې او معارف د کیفیت ښه کولو پروګرام له دوه پروژو څخه جوړ شوی دی: لومړی دمعارف دکیفیت دښه والی پروژه (۳۵ میلیونه امریکایي ډالره وړیا مرسته او د افغانستان بیاجوړونې صندوق ۴۴ میلیونه ډالره وړیا مرسته) اودپوهنې دکیفیت دښه والي دوهمه پروژه (۳۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته او د افغانستان بیاجوړونې صندوق ۱۵۶،۷ میلیونه ډالره وړیا مرسته) د ۲۰۰۸ کال د مې په میاشت کې پیل شوه. دا پروګرام په بشپړه توګه د پوهنې وزارت د ملي ستراتیژۍ (۱۳۸۵- ۱۳۸۹) له سند سره سمون لري او د افغانستان بیا جوړونې صندوق له لارې د ګڼو ډونرانو مرسته ورسره کیږي. دا بسپنې په مستقیمه توګه د ځایي خلکو له خوا د ښوونځیو د شورا ګانو له لارې د ښوونځیو د ودانیو د بیا جوړونې او د ښه کیفیت درلودونکي موادو لکه د تدریس او زده کړې موادو ته د لاس رسي له لپاره کارول کیږي.

د ښوونځیو شورا ګانې په ټولو ولایتونو کې فعالیت لري او د ۱۱۰۰۰ ښوونځیو له ډلې څخه، ۸۶۹۳ یې تر اوسه پورې د شورا لرونکي شوي دي. د ښوونځیو له شورا ګانو سره د ولایتي پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو پوهنې مدیریتونو او په د انجو ګانو (نا دولتي مؤسسو) له خوا مرسته کیږي. ددې پروګرام دوهمه پروژه په ۲۳ ولایتونو کې په ولسوالیو کې د ښوونکو د روزنې پروګرام سره مرسته کوي (په ۱۱ نورو ولایتونو کې د امریکې د نړیوالې پرمختیایي اداري له خوا مرسته کیږي.) همدارنګه هغو انجونو ته سکالر شیپ ورکوي، چې غواړي د دوه کلونو لپاره د ښوونکو د روزنې لوړې زده کړې ترسره د ښوونکو په توګه کار وکړي. د پوهنې د ملي ستراتیژې اړوند پروګرامونو په څارنه او ارزونه کې هم برخه لري چې پدې کې د پوهنې په وزارت کې د معارف د مدیریت د معلوماتو سیستم هم ګډون لري. د معارف وزارت د ۲۰۰۷ کال د ډسمبر په میاشت کې د ښوونځیو د ۱۳۸۶ لمریز کال سروې په بریالیتوب سره بشپړه کړه. ددې سروې نوې ډاتا د معارف وزارت په ویب سایټ کې موندل کیدای شي. داسې په پام کې ده چې په ۲۰۱۲ کال کې د دې دوو پروژو په بشپړېدو سره به کابو ۱۸۱۱ ښوونځي ودان شوي وي او د نجونو ښوونځیو ته به لومړیتوب ورکړل شي.همدارنګه د ښوونځیو ۸۶۹۳ شورا ګانې به جوړې او فعالې شي او لږ تر لږه ۱۲۰۰۰۰ ښوونکي به د خدمت په موده کې وروزل شي او ۱۲۵۰تنه نجونې به د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې سکالر شیپ ترلاسه او د ښځینه ښوونکو په ډله کې به د ښوونکو په توګه په کار پیل وکړي.

د لوګر ولایت د حصارك لیسې زده کوونکي په خلاصه فضا کې په خپل ټولګي کې درس وایي.

د صافي صاحب د لېسې شپږ خونیزه ودانۍ منظر، چې د پوهنې د کیفیت د ښوالی پروګرام له خوا په سهیلي ولایت کندهار کې ودانه شوې ده.

د لوړو زده کړو د پیاوړی کولو پروګرام (۴۰ میلیون امریکایی ډالرو وړیا مرسته او د افغانستان د بیارغونی صندوق ۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرسته): دغه پروګرام د غیر مستمرو رقابتی وړیا مرستو له لاری او همدا راز د سیمي او په لویدیځ کی د پوهنتونو سره دګډون له لاری په افغانستان کی د دغو شپږو مهمو پوهنتونونو د کارونو د ښه والی په موخه تر سره کیږی: د کابل د پولي تخنیك پوهنتون، د کابل پوهنتون او څلور سیمه ییز پوهنتونونه (لکه د بلخ پوهنتون، د هرات پوهنتون، د کندهار پوهنتون او د ننګرهار پوهنتون). له دی برسیره، د یو داسی پروګرام د پراختیا دبنسټ لپاره به مالی مرستی برابری شی چی د دریم پړاو یا د لوړو زده کړو پر پراختیا، د وړوالی د کچی د لوړولو او د اصلاحاتو په راوستو باندې ټینګار کوي. دغه پروګرام په افغانستان کی د لوړو زده کړو د اوږد مهالی پراختیایی او پرمختیایی پروګرام لومړنی پړاو ګڼل کیږي، چی د افغانستان د لوړو زده کړو سکتور ته د بیلابیلو سرچینو یا منابعو په جلبولو کی به مهمه ونډه ولري.

د بلخ د پوهنتون ودانۍ چې تر جوړولو لاندې ده.

ددغه پروګرام په ترڅ کې، له اتو بهرنیو رسمي پوهنتونو (د امریکې په متحده ایالتونو کې د کانسانس پوهنتون، د هارټ فورډ پوهنتون او د سانديا ګو پوهنتون، په ټایلند کې د آسیا ټکنالوژی انستیټوټ، په بریتانیا کې د برایټون پوهنتون، په هندوستان کې د نوې ډیلۍ پوهنتون، او په آلمان کې د رور بوشم پوهنتون او د برلین تخنیکي پوهنتون) سره د انجنیرۍ، کمپیوټر ساینس، د انګلیسي ژبې د زده کړې او د طبیعي علومو او اقتصاد او ادارې په برخه کې د شپږ ګډون کوونکو پوهنتونونو له ډلې څخه له پنځو پوهنتونونو سره یوولس مسلکي اړیکې یا ګډونونه مینځ ته راغلی دی او د غیر مستمرو وړیا مرستو څخه په ګټې اخیستنې سره د کتابونو، درسي موادو او معلوماتي ټکنالوژۍ د وسایلو د اخیستلو او د کتابتونونو، درسي ټولګیو او لابراتوارونو د تجهیزولو کار روان دی. ددې کال په لمړیو وختونو کې د افغانستان بیا جوړونې صندوق د مدیره هییت له خوا ۳۲ میلیونه امریکایی ډالره وړیا نوره مرسته هم منظوره شوه، ترڅو د پوهنځیو د ودانیو، کتابتونونو، او جمنازیمونو لپاره او همدارنګه د ماسټر پلانونو او نورو فعالیتونو لپاره ولګول شي او د بلخ، کندهار، ننګرهار او کابل پولی تخنیك پوهنتونو سره د اکاډمیکو خدمتونو په وړاندې کولو کې مرسته وشي.

د افغانستان دحرفوي او مهارتونو د لوړ والي پروژه (۲۰ میلیونه امریکایی ډالره وړیا مرسته): دا پروژه د کارپوهو افغانانو د شمېر اوچتولو او د لوړ کیفیت حرفوي او تخنیکي زده کړو او روزنې د داسې سیستم منځ ته راوړلو لپاره طرحه شوې ده چې برابر، د بازار له شرایطو سره سم او اقتصادي وي. په ځانګړې توګه دا پروژه به سبب شي چې د حرفوي زده کړو او روزنې سیستم د بازار د اړتیاوو سره سمه وده وکړي او روزنیزې مؤسسې په پلان جوړونه او د پروګرامونو په ټاکلو کې خپلواکي ولري او همدارنګه د کورنیو او بهرنیو تجربه لرونکو مرجع ګانو سره مسلکي همکاري پیل کړي.

ښځینه زده کونکې د پروان د ولایت په یوه ښونځې د زده کړې په حال کې.

وړاندیز شوې پروژه به دا کارونه تر سره کړي: (۱) د حرفوی زده کړو لپاره د مقرراتی او کیفیت د ډاډمنتوب چوکات جوړونه. (۲) د حرفوی او تخنیکی زده کړو د پروګرامونو دوړتیا، کیفیت و اغیزمنتیا ښه توب. (۳) د مهارتونو پراختیا او مارکیټونو د غوښتنو تر منځ د اړیکې ټینګول په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کی. (۴) د ځارنې او ارزونې څخه ملاتړ. دا پروژه د هغه دریو مهمو وزارتونو سره تړاو لري چې په پوهنه او روزنه کې کار کوي: د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت. په ځانګړې توګه د پوهنې او کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارتونو ته زیاته پاملرنه کیږي. د ناروی دولت او د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره په ګډه توګه دې پروژې ته بسپنه ورکوي چې د هریوه ونډه ۶ میلیونه ډالره ده. دا پروژه به د پنځو کلونو په ترڅ کې یعنې د ۲۰۰۸ کال د مارچ څخه د ۲۰۱۳ کال تر فبروري پورې پلی شي.

د روغتیایی سکتور د بیرنۍ بیا رغونی او پرمختیایی پروژه (۱۱۴،۸ میلیونو امریکایی ډالرو وړیا مرسته): دغه پروژه د لوړ اغیز لرونکو روغتیایی خدمتونو ته پراختیا ور بخښی او همدا راز

روغتیایي خدمتونو ته د خلکو، په ځانګړې توګه د بې برخې او بیوزلو کلیوالي سیمو ښځو او ماشومانو لاپسې زیاتوي. دې پروژه مرسته کړې ده چې ۸۵ په سلو کې وګړي لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی ولري. یوې خپلواکه مطالعې ښودلې ده چې د خدمتونو کیفیت د ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې په سلو کې ۲۱ ښه والی موندلی دی او د هغه ناروغانو شمېره چې روغتیایي خدمتونه تر لاسه کوي، تر دریو ځلو زیات اوچته شوې ده. یوه خپلواکه سروې چې په ۲۰۰۶ کال کې ترسره شوه وښودله چې په افغانستان کې د ۵ کلونو څخه د کوچنیو ماشومانو د مړینې کچه په ۲۰۰۱ کال کې په زرو ژوندیو زیږونونو کې د ۲۵۷ واقعاتو څخه ۱۹۱ واقعاتو ته راکښته شوې ده. .

د بلخ د ولایت د بلخ ولسوالۍ په کلینیک کې یو ډاکتر ماشوم معاینه کوي.

همدا رنګه دغې پروژې د عامې روغتیا وزارت سره مرسته کړې ده، چې نوموړې وزارت وکولای شي د روغتیایي پاملرنې په تمویل کې د زیاتې ونډې، د شریکانو د هم آهنګۍ او د غیر دولتي مؤسسو څخه د څارنې له لارې د روغتیایي سکتور فعالیتونه و څاري. همدا راز د یوې آزادې سروې له مخې، چې پدې وروستیو کې د کورنیو په اړه ترسره شوه، په افغانستان کې د ماشومانو د مړینې اندازه د ۲۰۰۱م کال په پرتله، چې په ۱۰۰۰ ژوندي زیږونو کې ۱۹۱ وه په کال ۲۰۰۶م کې په ۱۰۰۰ کې ۲۵۷ ته راټیټه شوه. دا په دې معنا ده چې د طالبانو د واک د مودې په پرتله په هر کال کې ۸۰۰۰۰ کم ماشومان مري. د کورنۍ د اندازې د کنټرول تنظیم په اړه پلان په ۲۰۰۳ م کې په سلو کې ۵ څخه په ۲۰۰۶ م کې په سلو کې (۱۵) ته لوړ شو او د هغو امیدوارو ښځو تناسب، چې د ماشوم د زیږونې څخه مخکې د روغتیایي پاملرونو څخه ګټه اخلي، په نوموړې موده کې په سلو کې له ۵ څخه په سلو کې ۳۲ ته لوړ شو. ددغه پروګرام فعالیتونه دادي:

اووه افغانې او پنځه نړیوالي غیر دولتي مؤسسې په اتو ولایتونو: (هلمند، فراه، بادغیس، سرپل، بلخ، سمنګان، وردګ او نیمروز) او همدا راز په نورو بې برخې ولایتونو (لکه بدخشان، بغلان، خوست، او پکتیکا) کې د ولسوالیو په شپږو کلسترونو (ډلو) کې خدمتونه برابروي. له ۳۰۰ څخه زیات روغتیایي سهولتونه او اسانتیاوې جوړې او رامینځته شوې، چې په سلو کې۸۵ یې اوس ښځینه کار کوونکي لري. په زرګونو ټولنیز روغتیایي کارکوونکي روزل شوي او په کار ګمارل شوي دي، تر څو روغتیایي چارو ته وده ورکړې او لومړنۍ مرستې برابرې کړي. د پروژې په مرسته، په سلګونو کلیوالي دایه ګانې په افغانستان کې د ماشوم د زیږیدنې په وخت کې د زیاتو مړینو د کمولو په موخه روزل شوي دي. د ۲۰۰۴ کال له سپتمبر د میاشت څخه را پدیخوا، د عامې روغتیا وزارت په دریو نورو ولایتونو (پروان، کاپیسا او پنجشیر) کې د خدمتونو د برابرولو دنده په غاړه لري. په عین وخت کې د ۲۰۰۶م کال د جون له میاشتې څخه راپدیخوا د عامه روغتیا وزارت هم د کابل ولایت په دریو ولسوالیو کې د روغتیایي خدمتونو د بنسټیزې بستې د عرضې یا وړاندې کولو مسوولیت پر غاړه لري. همدارنګه دغې پروژې د خوندي اوبو د سیستم او روغتیایي خدمتونو د تمویل په هکله د څېړنو دوه پروګرامونه تمویل کړي دي. د خوندي اوبو د سیستم د څېړنو پروګرام د وردګو په ولایت کې ترسره کیږي او د اسهالاتو یا نس ناستو او نورو د اوبو له اړوندو ناروغیو د کمښت لپاره بیلا بیلو میتودونه یې آزمېیلي دي. اوس د دغې مطالعې آخري راپور شته دی. د روغتیایي خدمتونو د تمویل په هکله د څېړنو پروګرام متبادل میتودونه، لکه له مراجعینو څخه د فیس اخستنه او د ټولنې له خوا د روغتیایي لګښتونو تمویل ارزولي دي. ددې مطالعې څخه لاس ته راغلي معلوماتو د عامې روغتیا وزارت هغه پرېکړه تر اغېزې لاندې راوستې چې پر بنسټ یې په اساسي روغتیایي مرکزونو کې فیس له منځه ځي.

یو مور خپل ماشوم د معاینې لپاره د بدخشان ولایت د جرم په ولسوالي کې یو روغتیایي مرکز ته راوستی دی.

اوس مهال د افغانستان دولت او نړیوال بانک کار کوي، چې نوې روغتیایي پروژې (د کلیوالو بیوزله کسانو لپاره د روغتیایي فعالیتونو د پیاوړتیا پروژه) آماده او برابرې کړي. دا پروژه به روغتیایي سکتور ته لازیاته پروګرام شوې مرسته برابره کړي ترڅو هڅه وشي چې دې سکتور ته د بدلون وړ او د وړاندوینې وړ مالي بسپنې برابرې کړي. دا پروژه به د ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۱ کال پورې د روغتیا او تغذیې سکتور ستراتیژۍ یوه برخه تمویل کړي، چې نوموړې ستراتیژي د ټولو پرمختیایي همکارانو د مرستو چوکاټ جوړوي.

یو شمیر ژورنالستان په هغه ورکشاپ کې ونډه اخلي چې د کندهار ولایت د کرنې د ولایتي ریاست له خوا د مرغانو د والګې په هکله د پوهاوي لپاره جوړ شوی وو.

د مرغانو د والګې د کنټرول او د بشري پاندیمۍ په وړاندې د چمتووالي او غبرګون پروژه (۸ میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرسته): دا پروژه انسانانو ته د مرغانو د والګې له سرایت او لیږدونې څخه د مخنیوی، او د څارویو په سکتور کې د سخت پتوجنیك والګې د وقایې، ککړتوب، کنټرول او له منځه وړلو د فعالیتونو برابرولو او پلي کولو لپاره جوړه شوې ده. دا پروژه به د ستراتیژیکو تبلیغاتو له لارې د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره له یو ملي پروګرام څخه هم ملاتړ وکړي. د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو او کرنې مؤسسه ددې پروژې د څارویو د روغتیا په ډګر کې د مرستندویه همکار په توګه غوره شوې ده او د قرار داد تړلو پروسه یې وروستي پړاو ته رسیدلې ده. نوموړې مؤسسه په روزنه، د بېلګو په وړاندې کولو، د پخوانیو تقنیني سندونو به کتنو او نورو چارو کې مهم رول ترسره کړي. دې مؤسسې لا د وړاندې هغه روزنې پیل کړي دي چې د چټك غبرګون د تیمونو لپاره د مرغانو د والګې د چټکې پېژندنې، سرویلانس او کنټرول لپاره او همدا رنګه د تقنیني سندونو په هکله ورکول کیږي. د نړۍ روغتیایي سازمان به د پروژې د انساني روغتیا په برخه کې د مرستندویه همکار په توګه رول ولري او د FAO په شان به کار کوي، خو قرار داد یې تر اوسه وروستي پړاو ته ندی رسیدلی. د چټکې تیارۍ او غبرګون واحد په رسمي توګه د عامې روغتیا وزارت په نوي تشکیل کې ورګډ شوی دی. د مرض د سرویلانس سیستم فعال دی او هره اوونۍ راپورونه وړاندې کوي. د اړیکو هغه اړخیزه ستراتیژي چې د یونسف اداري په مرسته جوړه شوې وه، اوس پلی کیږي او داسې فعالیتونه، لکه: د پوهاوي پراختیا، د رسنیو روزنیز ورکشاپونه او د ښوونځیو د ماشومانو لپاره د پوهاوي کمپاینونه ادامه لري. د مرغانو د والګې اړوند دوه میاشتینۍ خبري خپرونه پیل شوې او د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت په ویب سایټ کې ددې پروژې لپاره یوه انټرنټي پاڼه پرانستل شوې ده. په دې اړوند د زیاتو معلوماتو لپاره دې ویب سایټ ته تلای شی: http://www.mail.gov.af/english/index.asp.

د ایډز او اچ آی وی د وقایې پروژه (۱۰ میلیونه امریکایی ډالره مرسته) داسې طرح شوې ده چې ددې ناروغۍ د مجادلې ملي ظرفیت ته د هغه وقایوی پروګرامونو له لارې وده ورکړي، ترڅو د ډېرو ګواښونو سره د مخ شویو کسانو لپاره پراختیا او لوړتیا مومي (لکه د زرقی مخدره توکیو کارونه یا نا خوندي جنسي اړیکې). هغه زیانمنونکې ډلې چې له ډېرو ګواښونو سره مخ دي، د زرقی مخدره توکیو د روږدیو، جنسي کارکوونکو او د هغوی مراجعینو، د بار وړونکو موټرونو چلونکیو او له زندانیانو څخه عبارت دي. همدارنګه، دا پروژه په پام کې لری چې د HIV د خپریدو د وقایې په هکله د عامو وګړو خبرتیا زیاته شی او د HIV د خپریدو او د خطرناکو کړو وړو څخه سرویلانس پیاوړی کړی او همدارنګه، هڅه به وشی تر څو د ګواښونو سره د مخ شویو کسانو ځایونه معلوم او د هغوی شمیره اټکل کړی او د HIV دناروغانو په ضد ټولنیز حساسیت کم کړی ، څکه دا کسان ملاتړ ته اړتیا لری، او هم په دی هکله عامو خلکو ته معلومات ورکړی.

دې پروژی د ۲۰۰۷ کال د جولای په میاشت کې د خپل پیل څخه راپدیخوا د ایډز د کنټرول د ملي پروګرام د ظرفیتونو په لوړ والي کې په لاندې توګه ونډه درلودلې ده: (۱) د اوو تنو داخلي او یوه بهرني مشاور استخدام، (۲)په کورنیو او بهرنیو روزنیزو چارو کې د ایډز د کنټرول د ملی پروګرام د کارکوونکو ګډون ، (۳)په بهر کې دایډز یا اچ ای وی له ویروس او ناروغۍ دکنترول دبریالیو پروګرامونو سره دایډز دکنترول دملي پروګرام دکارکوونکو آشنایي. دنوموړي پروګرام دظرفیت دزیاتوالي له امله په افغانستان کې له اچ ای وی سره دچلند او سلوک کړنلاره تصویب شوه، چې داپه هیواد کې داچ ای وی دزیانمن شویو وګړو له پاره دساتنې او حمایت په برخه کې ډېر مهم ګام ګڼل کیږي. د ایډز د کنترول ملي پروګرام له خوا د موخو د ترسره کیدو لپاره ۱۰ قراردادونه د کورنیو او بهرنیو مؤسسو سره تر سره شول او د زیانونو د کمښت فعالیتونه پیل شوي دي. ترټولو د زیات ګواښ سره مخ شویو ډلو سروې به د ۲۰۰۹ کال په پیل کې ترسره شي.

د کابل ولایت په سروبي ولسوالي کي یو شمیر ناروغان په یوه کلنیک کي د درملو د ترلاسه کولو په حال کي.

د ګمرکاتو د مډرنیزه کولو او سوداګرۍ د اسانولو بیړنۍ پروژه (د ۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت کریډټ) ددې لامل ګرځي چې د ګمرکي عوایدو د زیاتوالي، د سوداګرۍ د ترانسپورټي لګښتونو د کمښت، د سوداګرۍ د هڅونې، د فساد د کمښت او د سرحدي پروسو د ساده کولو

لپاره د افغانستان هڅې پیاوړې شي. نوموړې پروژه د اتومات کیدو، د اړیکو د ټینګښت، بنسټونو، د ګمرکونو د تخنیکي مرستو، دسوداګرۍ د آسانتیا او د ستندرد او میترولوژی په ډګرونو کې د پام وړ پرمختګ لري.

د ګمرکاتو کارکوونکي د ازیکوډا له سیستم څخه د شمالي ولایت بلخ په حیرتان بندر کې کار اخلي.

دې پروژې نسبت هغو ډېرو موخو ته چې په لومړي سر کې په پام کې نیول شوې وې، زیات پرمختګ کړی دی. ګمرکي عواید د ۱۳۸۱ کال د ۵۰ میلونو ډالرو څخه په د ۱۳۸۷ کال تر پایه ۳۶۱ میلیونه ډالرو ته لوړ شول، چې په دې توګه ۶۰۰ په سلو کې زیاتوالی ښیي، چې په عمومي توګه د ترانزیتي محمولو کمپیوټري کنټرول، د ګمرکي تصفیې په هکله جدي کنټرول، د تعرفو د رښتونې کچې زیاتوالی او په زیاتېدونکې توګه د رسمي سوداګرۍ په سکټور کې د نارسمي سوداګرۍ مدغم کېدل یې لاملونه دي. د سوداګرۍ کچه هم د پام وړ زیاتوالی لري چې د پروژې په پیل کې د ۲ میلیارده امریکایي ډالرو څخه به په اټکلي توګه د ۲۰۰۹ کال په مارچ کې ۴,۴۳ میلیارده ډالرو ته ورسیږي. د بار وړونکو موټرو د ترخیص موده هم د پام وړ کمښت ښیي، چې په سلو کې د ۹۱ بار وړونکو موټرو د ترخیص موده له ۹۰ دقیقو څخه لږ ده چې دا وخت د پروژې د موخې سره سمون لري.

له هغه وخته راهیسې چې د ګمرکي اطلاعاتو اتومات سیستم (ازیکوډا) د ترانزیتي سیستم لپاره د طورخم- جلال آباد – کابل، اسلام قلعه – هرات – کابل، حیرتان – مزار – کابل، او تورغندی – هرات – کابل په لارو کې پلي شوی دی، کابو ۶۰۰۰۰۰ د ترانزیت فورمې ویشل شوې دي او ۱۲ میلیونه ډالر د ۲۰۰۸ کال د نوامبر میاشتې تر آخره پورې د ترانزیت د فیس په څیر ترلاسه شوي دي. همدا راز، له هغه وخته راهیسې چې د ازیکوډا سیستم د اظهارلیکونو د پروسس لپاره کارول شوی دی، له ۳۴۰۰۰ څخه زیات الکترونیك اظهارلیکونه د وارداتو او صادراتو لپاره د سوداګرانو له خوا د کابل په تصفیوي ګمرك او هوایي ډګر کې وړاندې شوې دي. د مهمو بنسټونو او ادارو بیا رغاونه او جوړونه د رضایت وړ ده چې له ۶۰ څخه زیات بنسټیزه جوړښتونه بیا رغاول شوي، جوړ او یا یې د استفادې وړتیا ښه شوې ده چې په دې ډله کې په کابل کې د ګمرکونو او عوایدو مرکزي ودانۍ، د جلال آباد تصفیوی ګمرك، د بار وړونکو موټرو پارکینګ او اړوند جوړښتونه ګډون لري. په دې موده کې د افغانستان د ګمرکاتو اداري خپل پنځه کلن پلان د پروژې په اوږدو کې جوړ کړ او هغه یې پراختیایي ادارو ته وړاندې کړ ترڅو په پلي کولو کې یې مرسته ورسره وکړي.

د سوداګرۍ او ترانزیت د آسانتیا ملي کمېټې خپله پنځمه عمومي غونډه جوړه کړه او څلور کاري ګروپونه یې د لاندې چارو لپاره وټاکل: د کمېټې اساسنامه، د تجارت آسانتیا، ترانزیت او بار چلونه، او سوداګریز خدمتونه ترڅو د سوداګرۍ او ترانزیت اړوند مسایلو په هکله مشوره ورکړي. د افغانستان ګمرکاتو د اداري د اړیکو د عصري کولو لپاره ښه پرمختګ شوی دی. داسې چې په ۱۸ سیمو کې د VHFاو HF راډیوګانې او د VSAT/VPN ۱۰ دستګاوي د کابل په مرکزي دفتر، د کابل د هوایي ډګر ګمرك، د جلال آباد تصفیوی ګمرك، تورخم، هرات، اسلام قلعه، حیرتان، مزار شریف او تورغنډۍ کې نصب او ځای پر ځای شوې دي. د افغانستان د ستندرد ملي اداره د دولت د خپلواکې اداري په توګه منظور شوې ده او لا مخکې یې د سونګ د موادو د آزمېینې د لابراتوار، د خوراکي توکو د آزمایښتي لابراتوار او د میترولوژي آزمایښتي د لابراتوار د تدارکاتو د پروژو لپاره اسناد برابر کړي دي. دا پروژه اوس مهال د نړیوالې داوطلبۍ لپاره وړاندې شوې ده. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزیټ نوې موافقې مسوده په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو د اقتصادي ګډ کمسیون په اوومه غونډه کې تر بحث لاندې ونیول شوه. خبرې اترې په رسمي توګه پیل شوې دي ترڅو دا موافقه په شپږو میاشتو کې وروستي پړاو ته ورسیږي. ددې پروژې له لارې، د ګمرکاتو د مامورینو د روزنې او ظرفیتونو د پراختیا لپاره د پام وړ پرمختګ شوی دی او له ۹۵۰ څخه زیاتو کارکوونکو د ۵۹ بیلابیلو مضمونونو په کورسونو کې ونډه اخیستې ده. دا روزنه د ګمرکاتو د روزنې د واحد له خوا برابره شوې ده. . نړیوال بانك د دولت د غوښتنو پر بنسټ د دوو تمویلي موافقو د برابرولو لپاره کار پیل کړی دی:

د ګمرکاتو کارکوونکي د ازیکوډا له سیستم څخه د ننګرهار په ولایت کې کار اخلي.

(۱) اضافي وړيا مرسته، تر څو هغه مؤقتي بسپنه چې د دولت له خوا ورکول کيږي، برابره شي. (۲) د ګمرکاتو لپاره يوه نوې تعقيبي پروژه، چې په اساسي توګه به د ادارې څرنګوالي ته پاملرنه وکړي.

د مخابراتو بيړنۍ پروژه (د ۲۲ ميليون دالره بې ګټوپور او کريډټ): دغه پروژه له دولت سره مرسته کوي چې خپلې مواصلاتي شبکې ته پراختيا ور وبخښي. دغه کار به د پاليسۍ په اړه د مشورو، د مخابراتو د وزارت د کار کوونکو د وړتيا او ظرفيت د کچې د لوړولو او پستي خدمتونو کې د ښه والي د مينځ ته راوړلو له لارې ترسره شي. په دې اړه فعاليتونه دادي:

د دولت د مخابراتو شبکه د ۱۶ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت پرانستل شوه او د هغې په واسطه د انټرنټ او غږيزو مخابراتي خدمتونو لاس رسی، لکه د لېرې واټن او نړيوالې اړيکې د دولت تر ۳۰۰۰۰ څخه زياتو کارکوونکو له پاره په کابل او هېواد په ولايتونو کې برابرېږي.د راډيويي طيف د څارنې نوی سيستم په افغانستان کې د راډيويي طيف د مناسبې کارونې له پاره نصب او د ۲۰۰۶ کال د ډسمبر په مياشت کې پرانستل شو. د هېواد ټول ولايتي مرکزونه اوس د دولت د رياست او وزارتونو له مقاماتو سره په کابل کې د ويديويي کنفرانس له لارې اړيکې ټينګوي. همدارنګه د ولايتونو د واليانو د مخابرو شبکه اوس د دولتي مخابراتي شبکې له بنسټ څخه کار اخلي.

په ټول هېواد کې تر ۴،۷ ميليونه زيات د شخصي موبايلونو مشترکين شته دي، چې مخابراتي ګڼوالی يې په سلو ۱۷ ته رسيږي. له ۹۲۵ ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات په دې سکتور کې پانګه اچونه شوې ده او تمه کيږي چې دا پانګه اچونه به تر ۲۰۱۰ کاله پورې ۱،۵ ميلياردې امريکايي ډالرو ته ورسيږي. د دولت کابو ٪۱۵ عوايد د مخابراتو له سکتور څخه لاس ته راځي. دا سکتور په مستقيمه او غير مستقيمه توګه ۶۰۰۰۰ افغانانو ته د کار لارې چارې برابروي. همدارنګه افغان ټيلی کام په بشپړه توګه په سهامي شرکت بدل شوی او په پام کې ده چې د روان کال تر پايه پورې خصوصي شي. د پوستي سکتور د پرمختيا په ډګر کې افغان پوست نوي خدمتونه معرفي کړي دي، لکه چټک پوست. عوايد يې په تېر کال کې په پرله پسې توګه زيات شول او افغان پوست له مرکزي بانک څخه د مالي خدمتونو د وړاندې کولو اجازه هم تر لاسه کړې ده.

دافغانستان دپانګې اچولو دتضمين مرکز د نړيوال بانک د څو اړخيزو پانګې اچوني د تضمين اداری په مرسته: په افغانستان کې د پانګه اچونې د تضمين د پروګرام موخه داده چې د سياسي خطرونو په بيمه کولو سره د نوموړي هېواد په بيا جوړونه کې د مستقيمې بهرنۍ پانګه اچونې د هڅونې له لارې مرسته وشي، ځکه بهرني پانګه اچوونکي د افغانستان په چاپيريال کې تر ډېرې کچې سياسي خطرونه احساسوي. نوموړې پروژه داسې ډيزاين شوې ده، تر څو د بهرنيو تشبثاتو فعاليت وهڅوي. نوموړی پروګرام به د سيمه ييز اقتصاد د پياوړتيا ، کارموندنې او مالياتي عايداتو د لاس ته راوړنې لامل وګرځي او له بهر څخه به افغانستان ته د نوې ټکنالوژۍ او ميتودنو په راوړلو کې مرسته وکړي.

سره له دې چې په افغانستان کې د سوداګرۍ چاپيريال نور هم وران شوی چې نوموړي هېواد ته د مستقيمې بهرنۍ پانګه اچونې مخه يې نيولې ده، خو بيا هم د افغانستان د پانګه اچونې د تضمين پروګرام په ښه توګه پرمختګ کوي. تر اوس مهاله، شپږ تضمينه په مجموعي توګه تر دې پروګرام لاندې د پنځو مراجعينو لپاره صادر شوي دي، چې د کرنې، درمل جوړونې، مالي، ودانيز او مخابراتو سکتورونه پکې ګډون لري. ددې پروګرام لاندې ټوله پانګه اچونه کابو ۱۰۷ ميليونه ډالره ده چې په پايله کې يې ۱۲۰۰ نوي کارونه منځ ته راغلي دي.

د بريښنا د بيارغاونې بيړنۍ پروژه (۱۰۵ ميليونه امريکايي ډالره کريډټ او ۲۰ ميليونه امريکايي ډالره د ARTF وړيا مرسته) : د بريښنا د بيا جوړونې بيړنۍ پروژه (۱۰۵ ميليونه ډالره کريډټ او ۲۰ ميليونه ډالره د ARTF وړيا مرسته): دا پروژه په پام کې لري، ترڅو د ښاري وېش د شبکې د بيا رغونې او پراختيا له لارې د کابل بريښنا زياته او ښه کړي، د کابل ښار له شبکې سره راتلونکی شمال ختيځ انتقالي مزی وتړي او پدې توګه ارزانه بريښنا وارده شي، د نغلو د ۱۰۰ مېګاواټه فابريکې بيا رغاونه (چې د کابل ښار د بريښنا تر ټولو ستره زېرمه ده) او اړونده انتقالي مزی او همدارنګه د بريښنا د ادارې د جوړښت بدلون او تجارتي کول يې په موخو کې شامل دي. دا پروژه ښه پر مخ ځي. له نغلو څخه کابل ته د ۱۱۰ کيلو ولټه مزي کار بشپړ شوی دی. د ودانيزو چارو قرار دادیان تيار شوي دي او کار يې په عملی ډګر کې مخ په وړاندې روان دی. د نوري فايبر ځمکنۍ لين او اړوند وسايل يې د پل خمري – چمتلې په ۲۲۰ کيلو ولټه لين باندې نصب شول . هغه کار چې کابل د شمال ختيځ د بريښنا د لېږد له سيستم سره تړي، ترڅو د مرکزي آسيا له هېوادونو څخه بريښنا ترلاسه شي او د لوړې بيې ډيزلي بريښنا پر ځای ګټه ورڅخه واخستل شي، په ښه توګه جريان لري، چې دا کار د هغه پلان سره چې د ۲۰۰۹ کال په لمړيو وختونو کې د ازبکستان څخه د بريښنا د واردولو له پلان سره سمون لري.

دابولګولو دسيستم دبيارغونې بيړنۍ پروژه (۴۰ ميليونه ډالره بې ګټې پور،۵۳ ميليونه ډالره وړيا مرسته او۶ ميليونه ډالره دافغانستان د دولت مرسته): تر پروګرام لاندې سيمو کې د کرنيزو ځمکو لپاره د اوبو د برابرولو او د کرنيز توليد ، د کرنيزو ځمکو د عايد د زياتوالي، د خوراکي او معيشت د چارو د امنيت د ښه والي او د افغانستان د سيندونو په ټولو پنځو حوزو کې د اوبو لګولو د ملي سيستم د بيارغاونې له لارې د وچکاليو د زيان موندنې د کمښت په موخه د منصفانه او د ډاډوړ اوبو وېشلو سره مرسته کړې ده

تر اوسه پورې په کابل، جلال آباد، کندهار، بلخ، کندز او هرات کې د بنسټیز وړتیاوو د پراختیا په موخه شپږ سیمه ییز دفترونه جوړ شوي دي. د ۲۰۰۸ کال اکتوبر میاشتې تر ۳۲ مې نېټې پورې، د ۷۱۰ فرعي پروژو وړاندیزونه، چې ټول ارزښت یې کابو ۶۵,۹ میلیونه ډالره کیږي، چمتو شوي وو. له دې ډلې څخه ۶۶۸ فرعي پروژې چې ټول ارزښت یې ۵۶,۹ میلیونه ډالر کیږي، منظورې شوې او ۶۵۵ فرعي پروژو قراردادونه چې ټول ارزښت یې ۴۷,۱۳ میلیونه ډالره دي، ادامه لري او ۵۷۰ پروژې چې مجموعي ارزښت یې ۳۳,۶۹ میلیونه ډالره دی، بشپړې شوې دي. همداراز، د هغه قرار داد لومړۍ پړاو چې د سلطان بند د بیړنۍ بیارغونې لپاره شوی و، د کابو ۵۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت بشپړ شو. د امکاناتو د مطالعې اړوند کار د کوکچه سیند د کښته برخې د اوبو لګونې او برېښنا پروژې لپاره په کوکچه سیند او د آمو سیند په حوزه کې بشپړ شو. د نورې پراختیا خوښنې تر مطالعې لاندې دي. د هایدرولوژي د ۱۷۴ سټیشنونو څخه د ۶۴ سټیشنونو د نصب کار د هېواد په بېلابېلو برخو کې بشپړ شوی او د پاتې سټیشنونو د نصب کار ادامه لري.

د کابل په ولایت کې د اوبو لګونې یو کانال چې د نړیوال بانك د تمویل شوې پروژې له خوا بیا رغول کیږي.

د کابل د ښار جوړولو پروژه (د ۲۵ میلیون دالرو بسپنه او د افغانستان د بیارغونې صندوق ۵،۶ میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرسته): دا پروژه د کابل ښار د ۱۹ خورا زیانمنونکو ساحو په بیاجوړونه او رغاونه کې مرسته کوي (چې څلور سیمې یې په زاړه ښار کې واقع دي) چیرته چې د ښار ډېرې بېوزله خلك په نارسمي هستوګنځیو کې ژوند کوي. ددې پروژې موخه داده چې ۱۰۰۰۰۰ ولسي خلك اساسي خدمتونو ته لاس رسی ولري، لکه: اوبه، روغتیا ساتنه، د کثافاتو لېرې کول او د ځمکې د تصرف د حق خوندیتوب. دغه پروژه ددې مهم ښار په ودانولو او جوړولو کې مرسته کوي چې د زرګونو راستنیدونکو د ځای پر ځای کولو لپاره پکې هڅې کیږي. ددې پروژې یوه مهمه برخه داده چې د ښاري پراختیا او کابل ښاروالۍ کاري ظرفیت باید وده ومومي. په دې پروژه کې د اړوندو سیمو د ټاکنې، پلان او خدمتونو د برابرونې لپاره د سیمه ایزو میتودنو څخه کار اخستل کیږي. تر اوسه پورې، په ۱۶ ساحو کې ټولنیزې مشورې او د انجنیرۍ ډیزاین د خدمتونو د برابرونې لپاره بشپړ شوي دي اویا ادامه لري. په ۱۲ ساحو کې کار پیل شوی او په دو ساحو کې بشپړ شوی دی.

د ښاري اوبو رسولو سکتور پروژه (۴۰ میلیونه امریکایي ډالر وړیا مرسته): دغه پروژه په پام کې لري چې دا لاندې اجراات رامنځته کړي: د اوبو رسولو او کانالیزاسیون مرکزي مقام په عملي او تخنیکي عملیاتو بدلول، (۲) د افغان روغتیا ساتنې او ښاري اوبو رسولو د شرکت لپاره مالي ثبات رامنځه کول، (۳) اوبوته زیاته لاس رسیدنه او په کابل کې د اوبو رسولو د خدمتونو ډاډمنتیا، او (۴) د څارنې د پروژې برابرول چې دهغه تر لارښوونې لاندې اساسي او مالي هدفونه ترلاسه کیدای شي او د پروګرام لاندې ساحې په کابل او د ولایاتو په ښارونو کې لاپسې زیاتیږي. د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره درې برخې شاملیږي: (۱) د AUWSSC مؤسساتي پرمختیا (۲) د AUWSSC په عملیاتو کې مالي مرسته، او (۳) د کابل د اوبورسولو غزونه. د ۲۰۰۵ کال داکتوبر د میاشتې د کړنلارې د څانګې او سازماني پراختیا د پلان په اعلانولو سره، د (CAWSS) هم غږۍ په موخه د ۲۰۰۶ کال د جنوري په میاشت کې د جمهوري ریاست فرمان صادر شو. دغه پروژه د جرمني د پرمختیایي همکارۍ سره سمه تمویلیږي. د نوموړې فرمان له مخې کاري ډله د ښاري پراختیا او مالیې د وزارتونو له خوا رامنځته شوې او د همدې ډلې د ملاتړ په موخه، د ۲۰۰۶ کال د سپټمبر د میاشتې په لومړیو کې سلاکاران ورته وګومارل او چمتو شول. . هغه کاري ډله چې د یاد شوي فرمان پر بنسټ په دنده وګمارل شوه، د ۲۰۰۶ کال د اپرېل په میاشت کې جوړه شو او د نوموړې ډلې مرستندویه هیئت خپل کار په کابل کې د ۲۰۰۶ کال د سپټمبر په میاشت کې پیل کړ. د افغان ښاري اوبو رسونې او کانلیزاسیون د شرکت اساسنامه د ۲۰۰۷ کال د جولای د میاشتې په نهمه نېټه د کابینې له خوا منظوره شوه او د عدلیې وزارت له خوا د ۲۰۰۷ کال د جولای د میاشتې په ۱۱ مه نېټه په رسمي جریده کې خپره شوې ده ، مدیره هیئت په منظمه توګه غونډې کوي او عامل هیئت به یې هم ژر استخدام شي او همدا راز د شتمنیو او پورونو د انتقال مهال ویش جوړ شوی دی.

څاروي په ځانګړې توګه آسونه د افغانستان په کلیو کې د وړلو او راوړلو د اصلي وسیلو په توګه کارول کیږي. د شمال ختیځ ولایت بدخشان د درواز ولسوالۍ اوسیدونکي د آس په واسطه له سیند څخه تیریږي.

. د ګڼو مشورتي خدمتونو تدارکات ادامه لري او په زيات احتمال سره به د ودانيزو چارو د قرار دادونو داوطلبۍ اومناقصه د ۲۰۰۸ کال په تر پای پورې ترسره شي، ترڅو دا د پانګه اچونې پروګرام پلی شي.

د بڼوالۍ او مالدارۍ بېړنۍ پروژه (۲۰ ميليون امريکايي ډالره وړيا مرسته او ۱۱ ميليونه ډالره د افغانستان بيا جوړونې صندوق وړيا مرسته): دا پروژه د بڼوالۍ او مالدارۍ د حاصلاتو د لوړولو او د بازار موندنې د توان د اوچتولو لپاره طرحه شوې ده. دا پروژه د خصوصي پانګه اچونې هڅونه کوي او د مالدارۍ او بڼوالۍ د فرعي سکټورونو د اداري ظرفيتونو په پياوړتيا کې به مرسته وکړي. همدارنګه دا پروژه به د دولت د مخدره توکو ضد پروګرام کې هم مثبت رول ولري .دا پروژه داسې طرحه شوې چې د څو ډونرانو د ګډې پانګه اچونې د پروګرام حيثيت به ولري او ارزښت يې ۵۰ ميليونه ډالرو ته رسيږي. دا پروژه د هغه اوږد مهاله پروګرام لومړۍ پړاو ده چې په راتلونکې لسيزه کې به په ټول هېواد کې د بڼ والۍ او مالدارۍ دفرعي سکټورونو ته پياوړتيا ورکړي. نوموړې پروژه به د ميوو د بڼونو بشپړه بيا جوړونه او د پروژې په ټاکل شويو سيمو کې به پرمختيايي پروګرامونه د کښت په راتلونکي فصل کې پيل کړي، چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت د ستراتيژۍ سره سمون لري. د بڼونو د بيا رغونې فعاليتونه تر اوسه پورې په کابو ۲۰۰۰ هکټاره ځمکه کې پيل شوي دي او نوي باغونه، يعنی د انګورو تاکونه، زردآلو، بادام او انارو نيالګيو ايښودل د ۲۰۰۹ کال د پسرلي لپاره په کابو ۷۰۰ هکټاره ځمکه کې پلان شوي دي. د FAO موسسه د مرستندويه شريك په توګه د بڼ والۍ په پروګرام کې د مضرو حشرو سره د مبارزې د پروژې سره مرسته کوي او د بڼوالۍ د برخې د مرستندويه شريك سره همکاري کوي. د پروژې د مالدارۍ او حيواني روغتيا اړوند فعاليتونه هم په ښه توګه په مخ ځي. د «افغانستان وترنرانو اتحاديه» د حيواني روغتيا د برخې لپاره د مرستندويه شريك په توګه دنده ترسره کوي او دFAO مؤسسه دا رول د چرګانو د ودې نيمه اضطراري پروژې لپاره ترسره کوي. د چرګانو پروژه به د هغه فعاليتونو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د هغو په واسطه به د ۲۵۰۰۰ کليوالو ښځو سره مرسته وشي چې د چرګانو د ساتلو څخه د هغوی لاس ته راغلي عوايد په ، کورنو او کوچنيو تشبثاتو کې زيات والی ومومي. د مايع نايتروجنو د توليد فابريکه به جوړه شي، چې له مصنوعي القاح فعاليتونو سره مرسته وکړي او حيواني نسلونه اصلاح شي. د پروژې فعاليتونه به د لسو اړوندو ولايتونو څخه د هر ولايت په يوه ولسوالۍ کې په جدي توګه ترسره شي. په دې ځايونو کې به د بزګرانو اړتياوو ته په هر اړخيزه توګه پاملرنه وشي او د تکرار وړ بېلګه به يې جوړه شي، چې هغه په نورو ځايونو کې هم وکارول شي..

د طبيعي زيرمو د پرمختيا دوامداره پروژه (۳۰ ميليونه امريکايي ډالره وړيا مرسته): دغه پروژه له يوشمير داسې کړنو او اقداماتو څخه ملاتړ کوي چې د هغو په ترڅ کې د نړيوالې پانګه اچونې د معيارونو په برخه کې سالمه سيالي، ړونوالی او وفاداري تامين شي. په ډيرو هيوادو نوکې دغه ډول سکټورونه له فساد سره مخ وي، او دغه پروژه دولست سره مرسته کوي چې عايدات له دغسې باارزښته منابعو او زيرمو څخه په عمومي توګه دولت ته ولاړ شي او له فساد سره مخ نشي. همدارنګه، دغه پروژه د نړيوالو او سيمه ييزو پانګه لرونکو په جذبولو کې مرسته کوي. حکومت د ځينو نوښتيزه لارو چارو څخه کار اخلي، تر څو دغه سکټور اداره کړي، په استخراجي صنايعو کې د ړونوالی نوښت – يو لړ داسې پرنسيپونه دي چې د بشپړې خپرونې او د شرکت او عايداتي تاديو او ورکړو د تفکيک له لياري، چې دولت يې د تيلو، ګازو او دکانونو د راويستلو له لياري ترلاسه کوي، د دولت په حاکميت کې مرسته کوي. برسيره پردې، يوه نړيواله مشورتی شورا تاسيس شوې، چې له حکومت سره د وړانديز شويو قراردادونو د ګټې په ارزونه کې د هيواد د طبيعي زيرمو د ودې په برخه کې مرسته وکړي.

دغه پروژه اوس مهال سرته رسيدو او اجراء لاندې ده. د کانو په وزارت کې د پروژې د مديريت يو واحد جوړ شوی دی، ترڅو له نوموړي وزارت سره د پروژو په تطبيق او پلي کولو کې مرسته وکړي. يو شمېر قرار دادونه بشپړ يږي چې د کانو او نفتو لويو مشاورينو قرار دادونه، د کانو د مقررو تسويد ، او وزارت ته د لوژستيك او مادي مرستو قرار دادونه پکې شامل دي. نور قرار دادونه د تدارکاتو په وړاندې پړاوونو کې واقع دي، لکه د کدستر اداري خدمتونه او د جيولوژيکي سروې مرستې. همدارنګه دا پروژه له دولت سره مرسته کوي چې د عينك د مسو د کان د داوطلبۍ پروسه بشپړه شي. غوره شوی داوطلب اوس د نړيوالې داوطلبۍ د پروسې پر بنسټ ټاکل شوی او نړيوال بانك به د دولت سره د تکړه حقوقي او تخنيکی مشاورينو په ګمارلو کې مرسته وکړی، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د پروژې دسرته رسولو په اړه دبحث او حبرو اترو جريان شفاف او روڼ دی.

د خصوصي سکټور د پراختيا څخه د ملاتړ پروژې (۲۵ ميليون امريکايي ډالر وړيا مرسته): ددې پروژې موخه داده چې چی مځکني خدمتونه او آسانتياوی لکه، برينښنا ، اوبه او مخابراتی سهولتونه برابر او د دولتی ارګانونو وړوالی لوړ شی ترڅو وکولای شی ورته پروګرامونه ترتيب او پلی کړی. همدا راز دغه پروژه به د دولت او د دولتی ادارو وړوالی اوچت کړی، چې دغه اداری وکولای شی افغانستان د پانګه اچونی وړ وګرځوي او پانګه اچونی پورې اړوند خدمتونه برابر کړي. ددغې پروژه په ترڅ کی به جلال آباد ته څيرمه د حصار شاهی په سيمه کی صنعتي پارك په جوړيدو کې مالي مرسته وشي. نوموړی پارك به د سيمه ييز اقتصاد په وده، د دندو په مينځ ته راوړلو او مالياتو کچه لوړولو کی مرسته وکړي.

د ۲۰۰۷ کال د فبروري په مياشت کې د نړيوال بانك د بورډ له خوا ددې پروژې د منظورېدلو څخه را پديخوا ، د آيسا د صنعتي پارکونو د پراختيا د رياست بشري توان د پروژې د پلي کولو په ساحه کې ډېر ښه شوی دی. همداراز، د صنعتي پارك د جوړولو په ډګر کې مهم پرمختګ شوی دی. د سيول ودانيزو چارو قرارداد ترسره شوی دی. د بشپړتيا کچې په دې توګه دي: لومړنۍ سروې، د مځکې لېول او اوارول کابو ۹۰ په سلو کې بشپړه

شوې او د دوو ژورو څاګانو کیندنه او جوړونه بشپړه شوې ده او د چاپېره دیوال جوړښت ۹۵ په سلو کې بشپړ شوی دی. د سړکونو کار کابو ۳۵ په سلو او د سیلابونو د اوبو ایستلو کارونه په سلو کې ۵۰ بشپړ شوي دی او د دفتر ودانۍ او دساتونکو خونې په سلو کې ۲۵ بشپړ شوي دي.

د نورو مناقصو او داوطلبیو پروسس چې د اوبو د تصفیې د فابریکې، د جامدو بیکاره مواد د لېرې کولو او د برقي سامانونو په جوړولو پورې اړه لري، هم د پام وړ پرمختګ کړی دی او تمه کیږي چې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې به یې داوطلبۍ ته بلنه ورکړل شي. د آیسا د څېړنو او پالیسۍ ادارې او د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د پالیسۍ او ستندرد ریاستونو د ظرفیت د لوړتیا چارې دوام لري. د نړیوال بانك مؤسسه هم د آیسا د څېړنې او پالیسۍ د ظرفیت په تل پاته پراختیا کې مرسته کوي.

د دولتي دستګاه د اصلاحاتو پروژه (د ۲۰،۴ میلیون امریکایي ډالرو وړیا مرسته): ددې پروژې موخه داده چې د دولت له مهمو وزارتونو سره مرسته وکړي، ترڅو هغوی خپل اجراات د خدمتونو په برابرولو او د عامه سرچینو په کارونه کې د حساب ورکولو له پاره پیاوړي کړي. ددې موخې د ترسره کېدو لپاره به دا پروژه د مهمو وزارتونو سره د تشکیلاتو په بیا جوړښت او د کارکوونکو په ګمارلو کې مرسته وکړي، ترڅو هغوی وکولای شي خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي. همدارنګه دا پروژه به له دولت سره مرسته وکړي، چې ملکي خدمتونه د رڼو لایحو او کړنلارو پر بنسټ اداره کړي. سربېره پردې به د معاشونو او رتبو په اصلاحاتو کې هم مرسته وشي.

په افغانستان کې د خوراکي توکو د بحران پر وړاندې د غبرګون پروژه (۸ میلیونه امریکایي ډالره): دغه مرسته به د نړیوال بانك د خوراکي توکو د نړیوال بحران سره د غبرګون د نوي پروګرام له لارې د افغانستان سره وشي او د ۵۰۰ اوبو لګونې کوچنیو او مروجو پروژو ته به ورکړل شي، چې د هېواد د کرنې د بیا رغونې لپاره مهمې دي. د سیمه ییزې اوبو لګونې دا اضافي بسپنې به ددې لامل شي چې د هغه پروژو ټوله شمېره چې د ۲۰۰۲ کال راهیسې د نړیوال بانك له خوا تمویلیږي، ۶۰۰۰ ته ورسیږي. سر بېره پردې، نړیوال بانك کابو سل میلیونه امریکایي ډالره د منځنیو اوبو لګونې سیستمونو بیارغونې ته هم ورکړي دي. خو افغانستان به بیا هم د خوراکي توکو د اوسني بحران د مبارزې لپاره د پام وړ مرستې ته اړتیا ولري.د نړیوال بانك د دې مرستې لویه موخه داده چې په منځ مهاله موده کې داسې پانګه اچونه وشي چې په افغانستان کې د خوراکي توکو د تدریجي خوندیتوب لپاره اړینه ده او نړیوال بانك د افغانستان د نورو پرمختیایي شریکانو او خیریه مؤسسو سره همکاري کوي، ترڅو بیړني کمښتونه له منځه ولاړ شي.

ټولنیزې پرمختیا له پاره د جاپان د وجهي صندوق(GSDF): ۲۳،۱ میلیونه ډالره پکې شامل دي چې له جګړې څخه وروسته بیړنۍ پروژې تمویلوي او هغه پروژې دالاندې دي:

د وسلې د راټولولو، ملکي کولو، او د ټولنیزې ځای پر ځای کولو او له کلیوال ژوند څخه د ملاتړ د پروګرامونو لپاره دکارموندې بېړنۍ پروژه (NEEP DDR/RLS) – (۱۹،۶ میلیونه ډالره وړیا مرسته): دغه وړیا مالي مرسته د NEEP پروګرام لپاره چې همدا اوس هم جریان لري، برابره شوه،ترڅو نوموړی پروګرام وکولای شي پخوانیو جګړه ماروته کارونه پیدا او له نوموړو سره په ټولنه کې د هغوی په بیا ځای پر ځای کیدو کې مرسته وکړي او د کوکنار تر کښت لاندې سیمو کې د دولت د ژوندانه د متبادلو وسیلو په پروګرام کې ونډه واخلي. د JSDF وړیا مرسته به «د افغانستان د نوي پیل پروګرام» د یوې برخې په څېر له پخوانیو جګړه مارو سره مرسته وکړي ،چې هغوی وکولای شي په ټولنه کې بیا ځای پر ځای شي (دولتي نوښت چې د جاپان لخوا تمویلیږي). دا پروګرام د هغه مهارتونو پر ودې ټینګار کوي چې اوږد مهاله کارموندنه منځ ته راوړي او د کاري فرصتونو برابرونه پر اقتصادي ثبات او وده پورې اړه لري. د نوموړې مرستې کار د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت په واسطه د (UNOPS) مؤسسې له لارې پلي کیږي، چې له روزنې او سړکونو د بیا رغونې دوه جلا خو سره تړلې برخې لري. د پروژې د ختمېدو نېټه چې د ۲۰۰۸ کال د مارچ میاشت ټاکل شوې وه، د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر تر ۳۰ مې پورې وغځېده. غځېدنه یې اصلاً د سړکونو د یو شمېر پروژو د مسوولیت د دورې د پوښښ لپاره شوې ده . د ۲۰۰۸ کال ددسمبر تر ۱۵ مي پورې، کابو ۳۸۰۱ تنه پخواني جګړه ماران، او د کلیو بیوزلو او نېستمنو خلکو د کار پر بنسټ روزنه دسړکونو او صنعتونو په هکله او همدا راز علمي روزنه یې په حرفوي مرکزونو کې بشپړه کړې ده. پدې روزنه کې کابو ۵۷ ماهر تخنیك کاران شته دي، چې څلور میاشتیني تخنیکي کورسونه یې په دوو پوهنتونونو (کابل او قندهار) کې ترسره کړې دي. ددغو فارغینو څه نا څه په سلو کې ۹۰ صنعتي مهارت لرونکي د RAL په ساختماني او بدیل معیشت پروژو یا له هغو څخه بهر په کار ګمارل شوي دي. همدارنګه ۳۴۹ کیلومتره سړك ددې پروژې له لارې په ۱۳ ولایتونو کې بیا رغول کیږي او په مجموعي توګه ددې پروژې له لارې څخه کابو ۱،۶ میلیونه د کار ورځې منځ ته راځي.

د ټولنیزې پرمختیا له پاره د جاپان د دولت وجهي صندوق (JSDF):
دغه صندوق د جاپان د حکومت له خوا په ۲۰۰۰ ام کال کې پرانیستل شو، چې هدف او موخه یې د هغو فعالیتونو څخه ملاتړ دی چې په مستقیمه توګه د بیوزلو او زیان منونکو ګروپو نو اړتیاوو ته ځواب وایي ، د هغوی کاري ظرفیت ته وده ورکوي او په پرمختیایي بهیر کې د هغوی واکمني پیاوړې کوي. دغه وجهي صندوق د نړیوال بانک له خوا تطبیقیږي.
د جاپان حکومت او نړیوال پانک موافقه وکړه چې په JSDF کې داسې کړکۍ پرانیزي چې د مرستې په درې کلن پروګرام کې د افغانستان له فعالیتونو څخه ملاتړ وشي، تر څو په دغه هیواد کې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ټینګښت منځ ته راشي.

دراتلونکو دځوانو متصدیانو رامینځته کول (۲،۹۸میلونه ډالره وړیا مرسته): دا پروژه د ځوانانو د ټولنیز او اقتصادي حالت د ښه والي د افغانستان په څلورو لویو ښارونو (کابل، مزار، فاریاب او کندهار) کې پلي کیږي او د ځوانانو د خپل برخلیك دټاکلو او د پایښت لرونکي ګټې وټې د وسایلو د پرمختیا په منظور د هغوی چمتو کولو لپاره پلي او تطبیق کیږي. په دې پروګرام کې شامل ځوانان به له ۱۲ څخه تر ۲۸ کلونو عمر ولري. له ۴۲۷۳ څخه زیات ځوان هلکان او نجونې په حرفوي څانګو کې د دری نادولتي مؤسسو (آشیانه، ADA او HAW) له خوا زده کړه او روزنه ترلاسه کوي. کابو ۸۰ په سلو کې هغه ځوانان چې له دې پروګرام څخه فارغ شوي دی، اوس خپل تشبثات په بریالیتوب سره پرمخ بیایي. په فاریاب، کندهار، کابل او مزارشریف کې د ځوانانو د څلورو مرکزونو ودانول بشپړ شوی دي. ددې مرکزونو د فعالیت پلانونه جوړ او د کار او ټولنیزو چارو د وزارت له خوا منظور شوي دي. مرکز یې په کابل کې په بشپړه توګه فعال دی او لنډ مهاله حرفوي مهارتونه ځوانانو ته برابروي. نور دری مرکزونه به کافي تجهیزات او پرسونل ولري، ترڅو ځوانانو ته حرفوي او مسلکي زده کړې برابرې کړي او ښه خدمتونه، لکه د کار موندنې مشورې، د کوچنیو تشبثاتو په جوړولو کې مرسته او د بیلابیل د ملاتړ پروګرامونه به ځوانانو ته چمتو کړي. دا پروژه به د ۲۰۰۹ کال د فبروري په میاشت کې نهایي شي.

یو تن زده کوونکي د کابل د حرفوي زده کړو په مرکز کې د فلزکاري چارې زده کوي.

د افغانستان د بیارغونې صندوق (ARTF):

دافغانستان د بیارغونې صندوق (ARTF) د ۲۰۰۲ کال د مې په میاشت کې د افغانستان لپاره د مهمو مالي مرستو په هکله رامینځته شو. دا صندوق دوه برخې (کړکۍ) لري. یوه د عادي لګښتونو کړکۍ ده ،چې د دولت د عادي لګښتونو وجهې برابروي، لکه د ښوونکو، روغتیایي کارکوونکو او ټول هېواد د ملکي ادارو کارکوونکو معاشونه. بله کړکۍ یا برخه یې د پرمختیایي لګښتونو لپاره ده چې د پانګه اچونې د پروژو وجهې برابروي، لکه د کلیو د بنسټیزو جوړښتونو د پراختیا پروژې، د بشري پرمختیا پروژې او د ظرفیتونو او مهمو اقتصادي بنسټونو پرمختګ، لکه د برېښنا انرژي.

د افغانستان د بیارغونې صندوق (ARTF) اداره د نړیوال بانك له خوا د اداري کمېټې تر نظراو څارنې لاندې چې آسیایي پرمختیایي بانك، اسلامي پرمختیایي بانك، د ملګرملتونو پرمختیایي پروګرام او نړیوال بانك څخه جوړه شوې ده، سرته رسیږي. د دولت استازي (په ځانګړې توګه د مالیې د وزارت استازی) هم د اداري کمېټې به میاشتنیو غونډو کې د ناظرینو یا کتونکو په توګه ګډون کوي. یوه د څارنې مؤسسه هم استخدام شوې ده چې ددې صندوق اړوند د جاري لګښتونو د اماناتو په سمه اداره کې همکاري وکړي.

د ۲۰۰۸ کال د نوامبر میاشتې تر ۲۰ مې نېټې پورې، ۳۰ مرستندویه سرچینو د افغانستان د بیاجوړونې له صندوق (ARTF) سره د ۳ میلیارده ډالرو څخه زیاته ژمنه و کړه، چې له دې جملې څخه ۲،۸ میلیارده ډالره ترلاسه شوي دي. له ۱،۵ میلیارده ډالرو څخه زیات د افغانستان دولت د جاري لګښتونو لکه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو معاشونو لپاره او ۹۸۰ میلیونه ډالره د پانګې اچوونې پروژو ته د مرستې په توګه ورکړل شوي دي. د نوموړي صندوق د پرانستو راپدیخوا، د بسپنه ورکوونکو ونډه هر کال زیاته شوې ده او کولای شي د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ د پلي کولو لپاره د مالي مرستې د سترې سرچینې په توګه وده وکړي .

د ARTF دعادي لګښتونو کړکۍ (۱،۵ میلیارد ډالره): د ARTF د ARTF د عادي لګښتونو کړکۍ د ۲۵۰۰۰۰ تنو څخه زیاتو ملکي مامورینو معاشونه تمویلوي، چې د هغو سم نیمایي له کابل ښار څخه د باندې دي. همدارنګه د حکومت د ساتنې او څارنې د

د افغانستان د بیارغونې صندوق ARTF داسې طرحه شوی چې د دولت هغه مالکیت او لارښوونه پیاوړې کوي چې د بیارغونې دمرستې لپاره ضروري وي. نوموړی مالي صندوق د دولت د فعالیتونو له هغه پروګرام سره مرسته کوي چې په ملي بودجه کې هغه ته د لومړیتوب حق ورکړل شوی.

مالي صندوق داسې طرحه شوی چې دا لاندې موخې اوچارې ترسره کړي:

- د بیا رغونې د مرستې په اړوند د روڼوالي او حساب ورکولو پیاوړتیا.
- د ملي بودجې په پیاوړتیا کې مرسته کول د هغې وسیلې په توګه چې د بیا ودانولو پروګرام د ملي اهدافو سره منسجموي.
- د دولت له محدوده ظرفیت څخه د اضافي پیټي کمول، په داسې حال کې چې خپل کاري ظرفیت د اضافه کارۍ له لیارې پیاوړی کوي.
- د عامې بودجې د هغو لګښتونو په تمویل کې مرسته کول، چې دولت ته لازمي وي، تر څو کارونه په اغیزناک ډول ترسره شي.

فعالیتونو لګښت پرته له امنیتي سکتور څخه، چې په هغه کې د ودانیزو چارو، ضروری توکو او مالونو او نور عادی لګښتونه هم شامل دي، تمویلوي . په تیرو دریوکالونو کې دافغانستان حکومت د عامه مالي منجمنت او اداري لپاره نوی چوکاټ تاسیس کړ، چې په لاندې ډول دی: ملي بودجه د پالیسۍ د مهمې وسیلې په توګه، ژمنه، روڼوالی او منظم کمپیوټري سیستم، د چک د صادرولو د عایداتو او د عادي او انکشافي بودجې د ثبت لپاره د افغانستان د مالي اداري سیستم . همدارنګه د افغانستان بانک د تادیې او ورکړې په سیستم کې ورته ښه والی رامنځ ته شوی. د نوموړي صندوق د عادي لګښتونو کړکۍ د نړیوال بانك له خوا د (PWC) مؤسسې په نظارتي مرستې سره اداره کیږي. دا نظارتي مؤسسه د مالیې وزارت سره مرسته کوي ترڅو د د افغانستان بیارغونې صندوق له خوا د تمویل شویو لګښتونو له سموالي څخه ډاډ ترلاسه شي او دعادي بودیجي د ټول لګښت څرنګوالي وڅېړي.

انجنیران د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ د یحیی کلی پر سرک کارکوي.

اوس مهال د پانګه اچونې ۱۶ پروژې شته چې د ARTF له خوا د ۷۷۶ میلیونو ډالرو د ژمنې په ترڅ کې تمویلیږي. د پانګه اچونې د پروژو په اړونده کوم چې د ARTF له خوا تمویلیږي، پورتني پاراګراف ته دې مراجعه وشي

د ملی کارموندني بیړنی پروګرام لومړنی پړاو (NEEP.1) (۵۲،۸۲ میلیونو امریکایی ډالر د ARTF وړیا مرسته): دغه پروګرام زیاتو کارکونکو ته اړتیا لرونکی او له هغو عامه ګټو کارونو څخه ګټل کیږی، چی د IDA په لګښت ترسره کیږی او د ټولنی د ځواکمن کولو او د عامه ګټو کارونو د بیړنی پروګرام د سرکونو یوه برخه ده. ددغه پروګرام موخه په کلیوالو سیمو کی د محافظوی او ساتندویه جال په توګه د زیاتو خلکو لپاره په لنډ وخت کی د کمو اجورو کار پیدا کول دی. چی دا کار کیدای شی د کلیوالی سرکونو او لارو او د اوبو لګولو د بیا رغونی د فرعی پروژو له لاری عملي شي. د ۱۶،۶۲ امریکایی ډالرو په ارزښت دNEEP.1 پروګرام د اصلی وړیا مرستی په ترڅ کی فزیکی کارونه د ۲۰۰۵ م کال د جولای د میاشتی تر ۳۱ می نیټی پوری په سلو کی ۱۰۰ بشپړ شو. د ARTF له لاری د DFID، USAID، CIDA او AusAid څخه د نورو ۳۶،۲ میلیونو امریکایی ډالرو په لاس ته راوړلو سره پراختیا وموند. د NEEP-1 پروژی له لارې د ۲۰۰۸ کال د آګست تر میاشتې پورې، کابو ۳۰۰۰ کیلومتره د کلیو سړك او ۹۰۰۰ متره د اوبو ایستلو جوړښتونه بشپړ شوي دي. همدا راز، د طبیعي زېرمو د ادارې ۹۸ فرعي پروژې، د کوچنۍ اوبو لګونې ۲۳ پروژې او د لویو اوبو لګونې ۴ فرعي پروژې بشپړې شوې دي (د شمالان په سیمه کې د ۱۵۰۰ هکټاره ځمکې بیا رغونه). له ۵۴۵ ودانیزو ټرونونو څخه، ۵۰۵ یې بشپړ شوي او ۷ یې ادامه لري خو ۴۰ یې د بېلابېلو لاملونو په پایله کې فسخ یا لغوه شوي دی. هغه کاري ورځې چې د پروژې له امله منځ ته راغلي، ۵،۱۳ ورځې دي او تمه کیږی چې د آخري تادیاتو په ورکړې سره به ۵،۷ میلیونه د کار ورځې منځ ته راشي. دا پروژه د ۲۰۰۹ کال د مارچ تر یودیرشمې نېټې پورې غځول شوې ده . دا پروژه بشپړتوب ته نږدې ده. د NEEP-1 پروژی اړونده فرعي پروژې (او د NEEP راتلونکو پروژو د دوام لرونکو بسپنو په کارونې سره) اوس د افغانستان ټول ولایتونه تر پوښښ لاندې راولي.

د کابل ښار په لویدیځ کې د قرغې بند منظر (عکس د پژواک خبري اژانس)

دافغانستان دبیارغونې د صندوق له لارې دښاري اوبورسولو پروژه (UWSS): ددغه پروژه مجموعاً د ۴۱ میلیونو امریکایی ډالره پانګه لري، چې ښاري اوبو رسولو د سیستم په برخه کې د دولت لنډ مهاله پروګرامونه برابر کړي دي. د ۲۰ ملیونه امریکایي ډالرو لومړي قسط یي د ۲۰۰۵ م کال په فبروري او دویم ۲۱ میلیونه امریکایي ډالره قسط یي د ۲۰۰۵ م کال په نومبر کي اجراء او ترسره شو. د دي پروژې کار پنځه برخې لري چې هغه عبارت دې له: د کابل ښار اوبه رسول، د کابل ښار روغتیا ساتنه، د ښاري او ولایتي د اوبو رسولو سیتم او روغتیا ساتنه، د انجینري د چارو ملاتړ او د اوبورسولو د مرکزي اداري د فعالیتونو له پاره مالي او

د کابل ولایت په سروبي ولسوالي کې د نغلو د بریښنا بند یو منظر.

تخنیکي مرسته. د کابل د اوبو رسولو او د ولایتي ښاري اوبو رسولو او روغتیا ساتنې (CAWSS) عناصرو د مطالعاتو پر بنسټ عملي دې چې د کابل ښار له پاره بشپړ شوي دې، چې(د KFW له خوا تمویل شوی) او اوس د (CAWSS) په ۱۱ ولایتي مرکزونو کې په خدمت بوخت دی. سربېره پر دې، د (ARTF) پروژې د ۱۱ ښارونو عملي څېړنې تمویل کړې دي چې تر اوسه پورې د (CAWSS) له خوا تر څېړنې لاندې نه دي نیول شوي. دکابل د روغتیا ساتنې برخې د روغتیا ساتنې د ستراتیژیك پلان او د اړونده ماستر پلان پر بنسټ، چې ښاري باطله مواد او کثافات، سیمه ییزه روغتیا ساتنه او د سیلابونو د اوبو زهکشي یې تر پوښښ لاندې دې. دا پانګې اچوونې عناصر اوس په بېلابېلو پړاونو کې تطبیق شوي. په ځانګړې توګه د کابل د اوبورسولو برمه کاري کارونه پلي شوي، خو د دریو ودانیزو قراردادونو لاسلیك د بیو د جګوالي له امله ځنډېدلي دي. تر اوسه په کابل کې یو څو کوچني ګامونه د کانالیزاسیون اړوند اخستل شوي دي، خو د دوو لویو ودانیزو قراردادونو مناقصه داوطلبی باید بیا ترسره شي. همدارنګه، افغانستان ته د لسو میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي رارسیدلي دي ترڅو د ولایتي ښارونو په اوبو رسولو او کانالیزاسیون کې وکارول شي او د نل غځولو ډېرې قرار دادونه آخرې مرحلې ته رسېدلي او عملي کارونه شروع شوي دي، په داسې حال کې چې د زېرمو د ودانولو قرار دادونه لاسلیك کیږي. د پروژې د ټولو برخو په هکله د تخنیکي مرستو د مؤسسو سره قرار دادونه تر سره کیږي. دې پروژو ته مالي مرستې د ۲۰۰۵ کال د اګست د میاشتې څخه پیل او د ۲۰۰۷ کال د مارچ په میاشت کې ختمې شوې. د (CAWSS) په ۱۴ واحدونو کې د مدیریتیظرفیت جوړوني ته پوره پاملرنه شوي او د لومړي ځل لپاره یې مشرح تخنیکي، مالي او سوداګریز (تجارتي) معلومات رامنځته کړي دي. اوس نږدې ده چې (CAWSS) د افغانستان داوبو رسولو او فاضله اوبو له شرکت(AUWSSC) سره یو ځای شي.

کابل ته د بریښنا رسونې دسیستم دپیاوړتیا او د ښه کولو پروژه (۷,۴ میلیونه امریکایي ډالره) دافغان جرمن دمالي مرستو تمویل له لارې په کابل کې بریښنا ته دډاډ وړ لاس رسۍ له پاره فعالیت لري. دا پروژه درخې لري: دا پروژه درخې لري: د ماهیپر د بریښنا بند د ځینو برخو بیارغاونه، د ۱۱۰ کیلوواټه انتقالي لینونو بیارغاونه، او د کابل په ښار کې د سرکونو د څراغونو نصب او هغو ته د بریښنا رسول. د انتقال او د سرکونو د څراغونو عناصر بشپړ شوي دي. د اوبو د بریښنا بیا جوړونه کابو بشپړه شوې ده، چې یو واحد یې د ۲۰۰۷ کال د مې په میاشت کې په کار پیل وکړ. تمه کیږي چې دوهم یونټ به د ۲۰۰۹ کال ترمارچ پورې بشپړ شي.

د ماهیپر د بریښنا تولید د کابل ښار لپاره په ژمي کې خورا مهم دی، ځکه دا سټېشن یواځې په ژمي کې (له ډسمبر څخه تر مې پورې) اوبه لري او بله کارونه یې نشته ده. د ماهیپر فابریکې د یوه واحد تولید شوې انرژي کولای شي د کابل ښار ۱۶۰۰۰ کورنیو ته د ژمي په موسم کې بریښنا ورکړي (که چېرې فرض شي چې په کابل کې هره کورنۍ په اوسطه توګه ۲۰۰ کیلو وات ساعته بریښنا د میاشتې مصرفوي). همدار راز، د یوه واحد تولید شوې انرژي کولای شي په حرارتي فابریکه کې ۱۲ میلیونه لېتره تېل سپما کړي چې د تېلو د اوسنیو بیو پر بنسټ به ۱۱ میلیونه امریکایي ډالره لګښت ولري.

کابل ته د سالنګ د غرونو د لاري د ورداتې بریښنا د لین غزوني یو منظر.

د افغانستان د بریښنا سکتور د پراختیا پروژه (۳۵ میلیونه امریکایي ډالره): دا پروژه د افغانستان دولت ته په لاندې ډګرونو کې مرسته ورکوي: (۱) د عامې شبکې بریښنا ته لاس رسی زیاتوالی. (۲) د پل خمري، چاریکار، ګل بهار او جبل السراج په اړونده ښاري مرکزونو کې خلکو ته د موجودې بریښنا د کمیت زیاتوالی. دا پروژه دا دوه برخې لري: د توزیع او وېشنې د سیستم بیا رغونه او د ادارو د ظرفیتونو پیاوړتیا او د اوبو او بریښنا وزارت ته د

پروژې د اداري اړوند مرسته. دا پروژه به د اوبو او برېښنا په وزارت کې یو یونټ ته مرسته ورکړي ترڅو د انرژۍ اغېزمنتوب او ساتنه پراختیا ومومي.

دکابل،ایبک او مزار شریف دبرېښنا پروژه (۵۷ میلیونه امریکایي ډالره): ددې پروژې موخه داده چې د کابل، ایبك او مزار شریف دښارونوپه اړونده سیمو کې د اعتماد وړ او لوړ کیفیت درلودنکې برېښنا برابره شي. دا پروژه به د داسې پانګه اچونو ملاتړ وکړي چې لاندې هدفونه ترسره کړي: (۱) د ټیټ ولتاژ د توزیع شبکې پیاوړتیا چې د کابل په ځینو سیمو کې د زړو او له کاره لویدلو جوړښتونو د بیا جوړونې او ښه توب له لارې ترسره شي، ترڅو د برېښنا د اعتماد وړتیا او کیفیت او اړونده خدمتونه یې په اړینواو دضرورت وړ ساحو کې ښه والی ومومي او د برېښنا اداري حساب ورکونه ښه شي. (۲) د ایبك په ښار کې د یوه نوي ۲۲۰/۲۰ کیلو ولټه سب سټیشن او د هغې اړونده ۲۰ کیلو ولټه مزو جوړول، ترڅو د لوړ کیفیت، اعتماد وړ او پاکه انرژي د برېښنا له لارې د ایبك ښاریانو ته برابره شي. (۳)په مزار شریف کې د منځني او ټیټ ولتاژ د انتقالي شبکو بیا جوړونه او پیاوړتیا. همدا راز، دا پروژه به د اړونده ادارو د ظرفیت په پراخوالي کې مرسته وکړي، ترڅو د وېشنې د سیستمونو د فعالیت او ترمیم په هکله یې توان لوړ شي او مرسته به وکړي چې د مشترکینو د خدمتونو مرکز جوړ او فعال شي او په اړونده سیمو کې د افغانستان برېښنا شرکت ته وسپارل شي. د ایبك او مزارشریف د برېښنا لېږدولو سب سټیشن د پیاوړتیا قرار داد په وروستیو پړاوونو کې دی. د ویش چارو د سرته رسونې تړون کوونکي په کابل او مزار شریف کې تیار شوي دي او د ډیزاین کار مخ په وړاندې روان دی. د ایبك او مزار شریف د انتقالي سب سټیشن د پیاوړتیا تړون په ورستي پړاو کې دی.

کلیوالی سیمو ته اوبه رسونه (۵ میلیون امریکایی ډالر: دغه پروژه دوه موخې لري: (i) د خلکو د پوهی د کچې د لوړلو له لاری د کلیوالو خلکو روغتیایی حالت ښه کول، چی دا کار به د روغتیا او روغتیا ساتنې په اړه زده کړې د اوبه رسونی او روغتیا ساتنې له خدمتونو سره په یوځای کولو سره ترسره شی، او (ii) د سکتور د پراختیا په اړه د مرکزي او ولایتي دولتي ارګانونو، د غیر دولتی مؤسسو، د خصوصی سکتور او د خلکو ظرفیتونه لوړول، تر څو د اوبه رسونی او روغتیا ساتنې خدمتونو کچه په دوامداره توګه زیاتوالی ومومي. دا پروژه په ځانګړې توګه کلیو ته د اوبو رسولو ستونزې د کلیو د ۷۶۵ سرچینو (او ۴۲۰ سرچینی نورې د اضافی بسپنو په کارولو سره) او ۱۷ د اوبو زیرمو /د نل شبکو په ودانولو او ورسره د روغتیا ساتنې او د روغتیایي آسانتیاوو د کارونې د زده کړو او د ساتنې او ترمیم د تنظیم لپاره د سیمه ایيزو سیستمونو د جوړولو له لارې مرسته کوي. د پروګرام د پلي کولو واحد اوس جوړ شوی دی او د پروګرام د پلی کولو واحد شته دی او د کلیو پراختیا او بیا رغونې ولایتي ریاستونه، مرستندویه مؤسسې او ودانیز همکاران په بشپړه توګه آماده او چمتوشوي دي او د پروژې اړوند اته ولایتونو کې به د هغوې چارې د اضافي تمویلي بسپنو په واسطه ادامه ومومي (سمنګان، سرپل، کندز، تخار، بغلان، جوزجان، بادغیس او کابل). د روغتیا ساتنې د پراختیا او فعالیت او ساتنې روزنه کابو بشپړه شوې ده او د اضافي بسپنو په واسطه ادامه مومي. فزیکي ودانیزې چارې د اوبو د سرچینو او پاکو تشنابونو د ښودنې لپاره په اتو واړو ولایتونو کې ادامه لري او په راتلونکي کال کې به د اضافی بسپنو په واسطه ادامه وکړي. د څو پاتې نلونو پروژو تړونونه په جاري کال کې وتړل شول او کار به یې په راتلونکي کال کې بشپړ شي. همدارنګه ددې سکتور یوه مطالعه ترسره کیږي، ترڅو هغه راتلونکې پریکړې چې د کلیواو سیمو د اوبو رسونې اړوند کیږي، په پوهاوي سره ترسره شي.

دافغانستان دعدلي او قضایي سکتور داصلاحاتو پروژه(لومړی پړاو ۲۷میلیونه امریکایي ډالره): د افغانستان ملي پرمختیا ستراتیژۍ او د عدلي او قضایی سکتور د ملي ستراتیژۍ سره سم، د افغانستان بیا جوړونې صندوق د پروژې موخه داده چې د هېواد عدلي او قضایي مرکزي دولتي سیستم پیاوړی او عدالت ته د افغانانو لاس رسی زیات شي. ددې پروژې مستقیمه موخه داده چې د عدلي او قضایی سکتور ظرفیت پیاوړی شي، چې وکولای شي حقوقي خدمتونه برابر کړي. دا کار په اساسي توګه داسې کېدای شي چې د بشري پانګې او فزیکي بنسټونو ستراتیژیك مدیریت ترسره او د عدلي او قضایي سکتور د مسلکي کارکوونکو مهارتونه زیات شي او د حقوقي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د کارونې وړ فزیکي بنسټونو پیاوړي شي.

دافغانستان دولت او نړیوالې تمویلونکی ټولنې د۲۰۰۷م کا ل په روم کې په افغانستان کې دقانون دحاکمیت په اړه کنفرانس (چې دافغانستان او ایټالیا دهیواد له خوا جوړ شوی او ملګرو ملتونو یې مشري اوریاست په غاړه درلود) موافقه وکړه چې دافغانستان په عدلي او قضایي سکتور کې دپانګې اچونې دتمویل توحید او همغږۍ زیاتوالی ته ډیره اړتیا ده. د روم دکنفرانس ګډون کوونکو دیوې ګډې مصوبې په ترڅ کې موافقه وکړه چې دعدلي او قضایي سکتور یو جامع پروګرام ترتیب شي او دعدلي او قضایي ملي پروګرام دملاتړ او حمایت له پاره دې دګډې تمویلي وجهې میکانیزم رامینځته شي. نوموړي کنفرانس دتمویل میکانیزم دډیزاین له پاره له نړیوال بانک ته دمرستې بلنه ورکړه او څرګنده شوه چې دافغانستان دبیارغونې صندوق ډیر ظرفیت لري.

دعدلي او قضايي سکتور دتګلارې او ملي عدلي قضايي پروګرام په عمل کې پلې کيدو اوږد مهاله پروسه تشکيل کړه، چې هغه به دپروژو او پروګرامونو له لارې دهميشنۍ مرستې غوښتونکی وي، چې يو شمير به يې دافغانستان دبيارغونې دصندوق له خوا تمويل شي. داسې هيله او تمه کيږي چې دافغانستان دبيارغونې له صندوق څخه استفاده ديو مهمې زيرمه يزې منبع په توګه دعدلي سکتور دتمويلونکو مراجعو دهمغږی کيدو او دمرستو او هلو ځلو دتکرار دکمښت او دمعاملاتي لګښتونو دډير ټيټوالي سبب ګرځي، نو په همدې اساس بايد په دې سکتور کې دتمويلونکو مراجعو په پرمختيايي مرستو کې دکتنې وړ زياتوالی راشي.

د افغانستان د ملکي خدمتونو د ظرفيت لوړولو پروګرام (۱۳ ميليونه امريکايي ډالره):
لومړی برخه – له افغانستان څخه بهر د افغاني اوسيدونکو پروګرام AEP(۱۰ ميليونه امريکايي ډالره): به ددې لامل وګرځي چې په بهر کې ميشت مسلکی افغانان د افغانستان په بيا جوړونه کې لازياته ونډه واخلي او له هغوی څخه به د عامه سکتور د پاليسۍ جوړولو او د ادارو د ظرفيتونو د ودې په موخه کار واخستل شي. همدارنګه دا برخه په پام کې لري چې د افغانستان د خلکو د مهارتونو خلا او تشه چې د معلوماتي ټکنالوژۍ، انجنيرۍ، او تدريس په څانګو کې ليدل کيږي، له بهر څخه د تکړه او کار پوهو افغانانو په راستنونه او ځايي خلکو ته د دندې په مهال د ټريننګ په ورکولو سره له منځه يوسي. دکال ۲۰۰۵ له آګست د مياشتې څخه راپديخوا، کابو ۱۳۰ تنه د جانبي استخدام د پروګرام له لارې ګمارل شوي دي او د افغانو متخصصينو د پروګرام سره په ګډه يې له ۲۰ څخه زياتو وزارتونو او ادارو سره مرسته کړې ده..

دويمه برخه – د جانبي استخدام پروګرام LEP(۳ ميليونه امريکايي ډالره): په دې کې يو امتحاني او ازمايښي پړاو شامل دی، چې په نومړي پړاو کې به د غيردولتي مؤسسو او نړيوالو سازمانونو ۱۰۰ تنه جانبي داوطلبان د دولتي وزارتخانو او ادارو په اړوندو منځنيو او لوړپوړو پوستونو کې د دوو کلونو د مودې لپاره وګومارل شي، ترڅو د اصلاح، سمون او بيا جوړونې په لړۍ کې مرسته وکړي او مؤسساتي ظرفيت هم لوړ کړي. که چيرې دا کار بريالی ؤ، امتحاني پړاو به تمديد شي. د ۲۰۰۵م کال د اګست له مياشتې څخه راپديخوا کابو ۱۰۰ تنه کارپوهان (متخصصين) ته جانبي ډول استخدام او ګومارل شوي دي.

د منجمنټ او ادارې د ظرفيت د لوړتيا پروګرام (۱۰ ميليونه امريکايی ډالر) به د وزارتونو سره مرسته وکړي، چې خپل ظرفيت د منجمنت په مهمو څانګو کې پراخ کړي. دا ګام بايد دولت ته توان ورکړي چې سرچينې په ښه توګه اداره او پايلې په چټکه توګه لاس ته ورشي. ياد شوی پروګرام به د هغه تکړه افغانو کارکوونکو لګښتونه ورکړي چې اوس په انجو ګانو او نړيوالو ادارو کې په کار بوخت دي ترڅو د دولت په مهمو پوستونو، لکه: د مالی چارو اداره، تدارکات، د بشری سرچينو اداره، د پاليسۍ او ادارې په څانګو کې دنده ترسره کړي. هغه پوستونو ته به لومړيتوب ورکړل شي چې د وزارتونو په ولايتي ادارو کې دي. لکه څرنګه چې له افغانستان څخه بهر د افغاني متخصصينو پروګرام (AEP) او د جانبي استخدام پروګرام تمويلي بسپنې اوس په بشپړه توګه تر ژمنې لاندې راغلې دي، نو د منجمنت او ادارې د ظرفيت د پياوړتيا پروګرام د ۷۵ بستونو د اعلان چارې پيل شوې دي او تمه ده چې د ادارې ټيمونو سره به ۱۲ وزارتونو او ادارو کې په کابل او ولايتونو کې مرسته وکړي.

تخنيکي مرسته او دامکان سنجونې لومړني مطالعات – (۱۸,۵ ميليون ډالره): دغه پروژه د وزارتونو لپاره تخنيکي مرسته برابروي، ترڅو هغه پروګرامونه او پروژې چې د پرمختيايي همکارانو او خصوصی سکتور دتمويل لپاره مناسبې وي، رامنځ ته کړي. په همدې موخه، ځينې متخصصين او کارپوهان استخدام شوي، چې د بيارغونې د پرمختيايي مطالعاتود برابرولو او څارنې په اړوند لارښوونه وکړي او د هغو ی په طرحه او کنترول کې لازمه مطالعات ترسره کړي. برسيره پردې، دغه پروژه د مستعدو کمپنيو په واسطه د پانګه اچونې د پروژو د برابرولو لپاره ممکنه مطالعات تمويلوي.

په دغه سند کې ټول ياد شوي ارقام په امريکايي ډالر سره دي.
په افغانستان کی د نړيوال بانک د فعاليتونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره لاندينی ويب سايټ وګورئ:
www.worldbank.org/af

د نورو معلوماتو په خاطر لاندې اشخاصو ته مراجعه وکړئ:
په کابل کې : عبدالروف ضيآ، ټيلفون شميره ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰، برېښنا ليک: azia@worldbank.org
په واشنګټن کې: بنجمن س. کرو، ټيلفون شميره ۵۱۰۵ – ۴۷۳ (۲۰۲) برېښنا ليک : bcrow@worldbank.org